دوهم کال دوهمه گڼه

(۱۳۹۸.ش)

# سلطان ملخي توخي

خپلواکه اسلامي علمي ادبي او اجتماعي مهالنۍ مجله


امام شافعي (رح)

انسانيزم

خپلي هيلي مه وژنئ

د لاجوردو ترانزيتي لار

لنډه غر وزگړی

حشره خوړونکي نباتات

له اجتماعي شبکو د استفادې اداب

افغانستان د اقتصادي جگړې په درشل کي

د مسلمان نسل چټکه وده او د نورو وارخطايي

د انسان زړه د قران کريم په هنداره کي


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلطان ملخي توخي

خپلواکه اسلامي،علمي،ادبي او ټولنيزه مهالنۍ مجله

د امتياز څښتن : په کندهار ولايت کي د زابلي محصلينو خپلواکه ټولنه
بنسټګر :بشير احمد نظري
مسؤل مدير : انجنير امان الله حقيار
مرستيالان : نصيب الله زاهد
فرهنګي کميټه : عبدالقاسم زابلی، محمد براط نشاط، عبدالولي ذهين، احمد رښتين

**استازی**

| | | |
|---|---|---|
| کندهار | بشيراحمد نظري- | ۰۷۰۰۴۰۳۶۷۹ |
| کابل | عصمت ولي خانزاد- | ۰۷۰۰۰۱۶۱۱۶ |
| ننګرهار | سميع الله سعادت- | ۰۷۰۷۰۵۷۱۱۶ |
| هلمند | رحمت الله رحمتي- | ۰۷۰۵۱۷۴۱۸۸ |
| قلات | نصيب الله زاهد - | ۰۷۰۷۵۶۶۳۴۳ |
| شاجوي | امان الله حقيار- | ۰۷۰۵۵۷۸۰۹۴ |
| پکتيا | فيصل منلی- | ۰۷۰۸۳۳۸۵۱۱ |
| غزنی | علي ګل فقير- | ۰۷۰۵۰۹۲۵۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


۱. سرلیکنه ........................................................ ۵
۲. امام شافعي........................................................ ٦
۳. د اسلام له نظره د زړونو امراض او درملنه يې.................................. ۹
٤. انسانيزم........................................................ ١٤
۵. دښاغلي ايمل (اميدي ) لنډه پيژندنه ........................................ ۱۵
٦. ځوان نسل ته پاملرنه ........................................................ ۱۹
۷. افغانستان د اقتصادي جګړې په درشل کي........................................ ۲۲
۸. د مسلمان نسل زياتېدل او پر ضد يې پلانونه ........................................ ۲٤
۹. د ټولنيزو شبکو څخه د استفادې ادبونه........................................ ۲۸
۱۰. شعـــــــر........................................................ ۳۰
۱۱. افغانستان........................................................ ۳۱
۱۲. ايماني ژوند ........................................................ ۳۱
۱۳. لنډغر وزګړی........................................................ ۳۲
١٤. د لاجورد ترانزيټي لاري اقتصادي ارزښت........................................ ۳۳
۱۵. خپلي هيلي مه وژنئ ........................................................ ۳۵
١٦. زموږ د ټولني تر ټولو اساسي ستونزه څه ده؟........................................ ۳۷
۱۷. د منفي فکر زيانونه ........................................................ ۳۹
۱۸. بې ارزښته افتخار ........................................................ ٤٠
۱۹. حشره خوړونکي نباتات........................................................ ٤١
۲۰. درنو هيوادوالو! ........................................................ ٤٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱. درنو او پتمنو هیوادوالو!.......................................................... ٤۳
۲۲. په کندهار ولایت کي دزابلي محصلینو د ټولني د مشر پیغام ............... ٤٤
۲۳. چاپیریال کي ټــولنــیز ژوند ......................................................... ۳٦
۲٤. د زابل ولایت لنډه پېژندنه ............................................................ ٤۹
۲۵. شعر .................................................................................... ۵۰
۲٦. د سګرېټو زیانونه او د روږدو پایلي............................................ ۵۱
۲۷. شعر.................................................................................... ۵۲
۲۸. د امنیت اهمیت .................................................................... ۵۳
۲۹. نبوي جومات ........................................................................ ۵٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرليکنه

چاپي رسنۍ چې يو مهال د انسانانو د خبرتيا او معلوماتو د يوازينيو سرچينو په توگه پېژندل کېدې او د نړۍ نژدې هر انسان يې تر لاسه کولو او لوستلو ته لېوالتيا لرله، په دې وروستيو او په ځانگړې توگه د يوويشتمې زېږديزې پېړۍ په لومړيو کې د انسانانو د ژوند بوختياوو او د انټرنيټي نړۍ پرمختگونو دغه برخه هم بې اغېزې پرې نه ښوده او د چاپ او لوست بازار يې د پخوا په پرتله کمرنگه سو خو لا يې هم خپل ارزښت ساتلی او د نړۍ په گوټ گوټ کې لوستونکي لري.

د زابلي محصلينو ټولني او فرهنگي کمېټې د پوره هلو ځلو او ستړياوو په پايله کې د سلطان ملخي توخي مهالنۍ مجلې دوهمه گڼه چمتو او دا دئ ستاسو تر لاسونو در ورسېده.

په دغه مجله کې تر ډېره په کندهار کې د مېشتو زابلي محصلينو ليکنو او مطالبو ته ځای ورکول سوی او هغه مطالب چې تر ډېره د زابلي علمي ستورو د فکرونو زېږنده او يا د څېړنو او پلټنو د هڅو محصول دي خپروو، موږ کوښښ کوو چې د زابل کلتور، تاريخ، علمي او فرهنگي څېرې د دې مجلې له لاري لا نور وځلوو.

موږ تر ډېره حده هڅه کړې چې مجله مو معياري او پر اصولو برابره وي، ترڅو له يوې خوا پکښې د زابلي محصلينو هڅې خوندي سي او له بل لوري لوستونکي ترې د خپل ذوق سره سمه گټه واخلي.

نو که پکښې کومې تېروتنې وينئ، هيله ده چې د خپلي لويي او مهربانۍ له مخې مو وبخښئ.

بيا هم ستاسو درنو لوستونکو سالمو نيوکو او نېکو نظرونو ته سترگې په لاره يو، تر څو راتلونکې گڼه مو لا هم د پوهې او معيار په گاڼه سمبال سي او د شته احتمالي نيمگړتياوو مخنيوی پکښې سوی وي.

په پای کې يوځل بيا له هغو ټولو دوستانو څخه نړۍ نړۍ مننه کوو چې، د دې مجلې د مطالبو په راټولولو او چاپ کې يې خپله قلمي او مالي همکاري نه ده سپمولې او له برکته يې موږ او تاسو نن د دې مهالنۍ مجلې څښتنان يو.

تاسو د مجلې لوستلو ته رابولم!

په ټوله پېښتنه، اخلاص او درناوي

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفي الله سالار

# امام شافعي رحمه الله علیه

کله چي دعراق د فقهاوو استاد امام ابو حنیفه رحمه الله علیه وفات سو نوپه همدغه کال (۱۵۰ هجري) دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم په قوم کي یو داسي ماشوم دنیا ته سترګي وغړولي چي د علم ډیوې یې په لاسونو کي نیولي وې. دا لوی عالم محمد بن ادریس وو چي وروسته په امام شافعي رحمه الله علیه مشهور سو.

امام لاپه زانګو کي وو، چي دپلار له سیوري څخه بې برخي سو، مور یې ووېرېده ، چي ده ته څه زیان ونه رسیږي نو مکې ته یې کډې بار کړې، خپله امام د خپل ماشوم توب په اړه وایي چي په یمن کي پیداسوم ، د پلار له مرګه وروسته اړ سوو چي له خپلي پاتي کورنۍ سره په مکه کي یوځای سو ، د لسوکالو وم چي مکې ته ولاړم اوهلته مي زده کړي پیل کړې.

امام وایي چي په همدغه وخت کي مي قران کریم یاد کړ او د حدیثو له لیکلو او یادولو سره مي ډېره مینه وه، هرڅه به مي چي له خپلو استادانو څخه اورېدل هغه به مي لیکل اویادول.

امام شافعي (رح) لس کاله په مکه کي تېر کړل په دې وخت کي یې دومره علم ترلاسه کړ چي د فتوا درس ورکولو پر تړولو اړخونو برلاسی وو ؛ خو د هغه تنده لاماته نه سوه او د نورعلم په لټه کي وو؛ نوهمهغه وو چي دامام مالک (رح) خوا ته مدیني منوري ته ولاړی، او د نورو زده کړو لپاره د امام مالک رحمه الله علیه مخته کښېنستی.

امام وایې: کله چي امام مالک صاحب ته ورغلم نو راته یې وویل: نوم دي څه دئ؟ ماورته ویل: نوم مي محمد دئ ، هغه وویل: محمده! له خدایه ووېرېږه ، له ګناه ځان وساته، ته به په راتلونکي کي ستر عالم سې .

امام شافعي رحمه الله علیه له امام مالک رحمه الله علیه سره لس کاله پاتي سو، وروسته خپل ټاټوبي مکې ته راغلی ، د اقتصادي ستونزو له امله یې له دولت سره دنده واخیستله او د نجران حاکم سو، له پنځه کالو کار کولو وروسته یې له دولت سره ستونزه پیداسوه او بندي سو، خو د محمد بن الحسن په مځګړیتوب له بند نه خلاص سو او له هغه سره چي د حنفي مذهب ستر عالم وو پاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو او حنفي منهج په اړه يي ډير څه ترلاسه کړل. امام د محمد بن الحسن په اړه وايې : که موږ ته يې د خپلي پوهي مطابق خبري کړي وای ممکن موږ ورباندي نه وای پوه سوي خو هغه موږ ته زموږ له پوهي سره سمي خبري کولې .

امام شافعي رحمة الله عليه د خپل اوچت علم په واسطه خلکو ته د استنباط قواعد او قوانين ور زده کړل او د علم هغه چينې يې راوسپړلې چي پخوا چانه وې تدوين کړي .

يوه ورځ يې شاګردانو ته ويل چي زه په دوو شيانو کي ډير ستر مهارت لرم، اول په علم کي او دوهم د غشو په ويشتلو کې . يو ځل د حج په موسم کي امام احمد حنبل(رح) دده خبري ته غوږ نيولی وو نو خپل ملګري ته يې وويل: ما د يوسړي خبري واورېدې، هيڅکله مي داسي عاقل انسان نه دئ ليدلی ، نو خپل ملګري يې هم د هغه درس ته بوتلل، هلته يې خپل ملګري ته وويل چي خوښه دي نه ده چي نور درسونه پرېږدو او د دې ځوان خبري واورو ؟

ملګري يې ورته وويل چي د حديثو زده کړه په زړښت کي هم کيږي خو د دې ځوان خبري بيا نه پيداکيږي .

امام په ۴۵ کلنۍ کي  د اسلامي تمدن ستر مرکز بغداد ته راغلی کوم چي امام ورسره ډيره مينه درلوده، هلته يې په سلګونو شاګردان وروزل چي بيلګي يې امام احمد(رح) او اسحاق بن راهويه يادولای سو.

امام شافعي صاحب د ډير ستر فصاحت خاوند وو او په خبرو کي يې دومره تاثير وو چي ټولو علماوو به ويل: امام د عالمانو خطيب دئ، همداسي په تفسير کي د لوی لاس خاوند وو، امام شافعي(رح) به خلک د مختلفو علومو زده کړي ته رابلل، د امام په وينا چا چي قران پاک زده کړ قيمت اوهمت يې لوړ سو ، چا چي حديث زده کړل نو حجت اواستدلال يې قوي سو، چاچي فقهه زده کړه قدر او احترام يې زيات سو، اوچا چي رياضي زده کړه دښه نظر خاوند سو. کله به چي امام تلاوت کاوه نو اورېدونکي به يې دومره متاثره وو چي حتي ټولو به ژړل او سترګي به يې په اوښکو لندې وې.

دعلامه ابن القيم (رح) وېناده چي، يوه ورځ امام شافعي(رح) او محمد بن الحسن صاحب په مسجد کي ناست وه چي يو کس ورته راغلی، محمد بن الحسن وويل چي دا سړي به زما په خيال تجار وي، خو امام صاحب وويل چي نه اهنګر دئ، نو له سړي يې پوښتنه وکړه او هغه ورته وويل چي مخکي اهنګر وم خو اوس تجار يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام د ډېر ژور فکر خاوند وو، هغه د مسايلو پر ظاهري څېړلو بسنه نه کوله بلکي د مسايلو علت به يې تعقيبوی او د مسايلو د څېړلو لپاره يې قواعد لټول .

امام شافعي(رح) په خپل ژوند کي څو کتابونه وليکل چي مشهور يې (الرساله) او (کتاب الام) دي چي تر اوسه خلک ورڅخه استفاده کوي او خپلې ستونځي ورباندي حلوي.

د امام شافعي (رح) مذهب د هغه د دريو مشهورو (ابو ابراهيم اسماعيل بن يحيي المزکني (رح)، ابو ربيع بن سليمان المرادي (رح) او ابويعقوب يوسف بن يحيى البوسطي (رح)) تکړه شاگردانو په واسطه د اسلامي نړۍ کونج کونج ته خپور سو، د هغه مذهب اوس هم په مصر، فلسطين ،يمن او اندونيزيا کي زيات پيروان لري.

امام په خپل لنډ ژوند کي د علم داسي تاندي چينې مسلمانانو ته پريښودې چي تر ننه مسلمانان پرې خپله تنده ماتوي، نور علماء هم د امام په باره کي داسي ارشادات لري:

ستر امام ابوعبيده (رح) د امام شافعي صاحب په اړه وايې: ما د امام شافعي څخه زيات پوه، فصيح، لغت پوه ،عاقل ، او پرهيز گاره نه دئ ليدلی.

امام احمد بن حنبل (رح) وايي: دې امت ته په هرو سلو کالو کي الله ﷻ يو داسی شخصيت ورکوي چي د دې دين امور په سمه توگه خلکو ته ورسوي، عمر بن عبدالعزيز د پيړۍ په سر کي وو، هيله لرم چي امام شافعي صاحب به د بلي پيړۍ په سرکي وي، همدارنگه وايي چي امام شافعي صاحب د دنيا لپاره د لمر په څېر وو.


امام صاحب د خپل ژوند په وروستيو ورځو کي مصر ته ولاړ او هلته په (۲۰۴ هجري) کال د رجب د مياشتي په وروستۍ شپه د (۵۴) کالو په عمر د ورپيښبي ناروغۍ له امله يي له دې فاني نړۍ څخه سترگي پټي کړې او هلته خاورو ته وسپارل سو .

ترتيب کوونکي

صفی الله سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library





ضیاء الحق حماد
د اسلامي ثقافت د ځانګي محصل

# د اسلام له نظره د زړونو امراض او درملنه يې

څرنګه چي نفس د بنده د زړه او د هغه د رب په منځ کي یوه د تقاطع نقطه ده، بله دا چي زړه د ټولو اندامونو پاچا دئ، د اندامونو استقامت او کوږوالی، د هغوی سم چلښت او ناسم چلښت ټول په زړه پوري تړلي دي. همداوجه ده، چي جناب رسول ﷺ فرمایي:

(الا وان في الجسد مضغة اذا صلحت صلح الجسد كله واذا فسدت فسدت الجسد كله الا وهي القلب). [1]

ژباړه : خبردار! یقیناً په بدن کي یوه ټوټه د غوښي ده، کله چي هغه سمه وي؛ نو ټول بدن سم وي او که هغه خرابه سي ټول بدن ورسره خراب او فاسدیږي او هغه ټوټه زړه دئ. په دې اساس چي څومره زړه روغ وي هغومره د نفسي خواهشاتو او منکراتو ښه مقابله کوي او د الله ﷻ د امرمنلو ښه پابند وي او کوم زړه چي ناروغه او فاسد وي له هغه څخه بیا نور اندامونه هیڅ کومه ګټه نه سي اخیستلای او د الله ﷻ له حکمونو څخه هم خبر نه وي. د انسان زړه بیا ډولونه او مرتبې لري، چي په لا ندي بحثونو کي به واضح سي.

[1] بخاري شریف او مسلم شریف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی مبحث: د زړه ډولونه اوعلامې

لومړی مطلب: روغ زړه او د هغه علامه ( نښه): روغ او سالم زړه هغه زړه دئ، چې د الله ﷻ د اوامرو او نواهیو د مخالفو شهوتونو څخه خالي وي او همدارنګه له هغو شبهو او شکونو څخه خالي وي کوم چې د خیر او ښیګڼې سره په ټکر کې وي.

**د جوړ زړه نښې او علامې په لاندې ډول دي:**

۱. چې همېشه اللهﷻ ته په رجوع کولو او هغه سره په تعلق لرلو مجبور وي.
۲. کله چې کوم طاعت یا ذکر ور څخه فوت سي دومره درد ورته په زړه کې پیداسي، چې هغه د مال د فوت کېدلو څخه زیات وي.
۳. چې د وخت په ضایع کولو سخت خفه او دردمند کیږي.
٤. چې تل خپل خاوند اللهﷻ ته په رجوع کولو او خشوع کولو باندې هڅوي .
٥. د اللهﷻ مینه ورته د بل چا څخه او د اللهﷻ یاد ورته د بل چا څخه ډېر ګران وي.
٦. کله چې لمانځه ته ودریږي ټول غمونه ، اندیښنې او فکرونه ورڅخه ولاړ سي او پوره راحت او اطمینان او سکون پیدا کړي .
٧. چې د وخت په ضایع کېدلو داسي بخل کوي، لکه چې خلک یې دمال په مصرفولو کوي.
٨. چې خدمت کولو ته یې داسي زړه شوق کوي لکه څنګه چې د وږي زړه خوراک او څښاک ته کوي او تل یې زړه غواړي، چې خادم و اوسي .

**دویم مطلب : ناروغه زړه او د هغه علامې:**

ناجوړه زړه: دا هغه زړه دئ، چې یو څه ژوند پکښې وي؛ خو د ځینو علتونو له امله کله یې یو طرف او کله یې بل طرف ته راکاږي. کله کله دانسان زړه مریض وي مرض یې ورځ په ورځ زیاتیږي؛ خو دی پرې خبر نه وي او یا پرې پوهیږي نه؛ بلکي پوره مړ سي خاوند یې بیا هم خبر نه وي دا ځکه، چې د مریض زړه خاوند په هغو زخمونو کوم، چې د ګناه له امله پکښې پیدا سوي دي نه پوهیږي د هغه درد نه حس کوي. د مریض زړه علامې او نښې په لاندې ډول دي:

۱. چې د ګټورو غذاګانو څخه ضرري غذاګانو ته میلان کوي او د ګټورو دواګانو په ځای ضرري خوري، چې غوره غذا ایمان او ګټوره دواء قران کریم دئ او هغه ترې مخ اړوي او هر کله فاسدو اعمالو ته کوشش کوي.
۲. چې دا دنیا د ځان لپاره پوخ وطن جوړ کړي او د همدې دنیا پوره پوره اهل وګرځي، آخرت ته هیڅ توجه هم نه کوي او حال دا چې جناب رسول اکرم ﷺ ددې دنیا د ژوند په هکله عبدالله بن عمر ته فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کن في الدنيا كانک غريب او عابر سبيل.[۲]

ژباړه: په دنيا کي داسي اوسه لکه په شان د نا اشنا سړي او يا په شان د لارې د مسافر.

**درېيم مطلب: مړ زړه او د هغه علامه:**

مړ زړه هغه زړه دئ، چي د سالم ضد وي، نه خپل رب پيژني نه د هغه د اوامرو او نواهيو څه خيال ساتي، د خپلو خوندونو او شهوتونو سره مشغول وي. دمړ زړه علامې په لاند ي ډول دي:

۱. د الله ﷻ په غضب او رضاء هيڅ کومه پروا نه لري.

۲. هر څه په خپل نفسي خواهش تر سره کوي.

۳. دشيطان سره ملگرتيا او له دنيا سره دومره مينه لري، چي آخرت ور څخه په پوره ډول هېر وي.

٤. د نصيحت کوونکي خبري ورباندي بدي لگيږي.

٥. دحق له اورېدلو کوڼ او له ويلو يې گونگی وي.

**دويم مبحث: باطني امراض**

لومړی مطلب، دباطني امراضو اسباب:

د جناب رسول اکرم ﷺ څخه حذيفه اليمان روايت کوي، چي فرمايي: تعرض الفتن على القلوب كالحصير عودا عودا فأي قلب أشربها نكت فيه نكتة سوداء وأي قلب أنكرها نكت فيه نكتة بيضاء حتى تصير على قلبين على أبيض مثل الصفا فلا تضره فتنة ما دامت السماوات والأرض والآخر أسود مربادا كالكوز مجخيا لا يعرف معروفا ولا ينكر منكرا إلا ما أشرب في هواه.

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: را وړاندي کيږي په زړونو باندي فتنې لکه د چټايي په شان لرگی په لرگی؛ نو هر زړه يې چي وڅيښي په هغه کي به تور ټکی پيداسي او هر زړه يې چي رد کړي په هغه کي به سپين ټکی پيداسي تردې، چي دوه زړونه به وگرځي، سپين زړه، چي صفا به وي هغه ته فتنه هيڅ ضرر نه سي رسولای تر څو، چي اسمانونه او ځمکه موجود وي، او بل تک تور زړه لکه: نسکوره کوزه، چي نه معروف پيژني او نه به له منکر انکار کوي يوازي د خپل نفسي خواهشاتو به مني.

که پورتني حديث ته ځير سو؛ نو پوهيږو، چي رسول الله ﷺ زړونه دوه قسمه کړي دي:

۱- يو هغه زړه دئ، چي کله فتنه، فساد، يا بل څه ورته راسي هغه وڅيښي. لکه: څرنگه چي سفنج اوبه څيښي په هغه کي تور ټکی جوړ کړي او چي بيا څومره فتنې راځي هغه ته هر کلی وايي او ځای ورکوي تر دې پورې چي ټول تور سي. د دې په نتيجه کي خطرناک مرض هم ورته پيښ سي، چي هغه اشتباه د معروف او منکر ده نه نيک کار پيژني اونه بد کار، پر دوی داسي وخت هم راسي، چي په منکر د معروف عقيده کوي او په معروف د منکر، سنتوته بدعت او بدعاتو ته سنت ، حق ته باطل او باطل ته حق وايي.

---

[۲] بخاري شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- بل هغه سپين زړه دئ، چې فتنې ته ځای نه ورکوي او هغه ردوي، چې په نتيجه کې په هغې کې ايمان خپله ډېوه بله کړي او د ايمان په نور هغه پوره پوره ښايسته سي؛ نو څومره فتنې چې ورته راځي هغه ردوي او دده نور او رڼا نوره هم زياتيږي.

**دويم مطلب دباطني مرضونو ډولونه:**

د زړه باطني مرضونه څلور دي، چې په لاندې ډول بيانيږي:

۱- بې ځايه خبرې کول: دا يو خطرناک پټ مرض دئ، چې په اکثره زړونو کې سته او له هغه څخه ځان ساتل پکار دي، بې ځايه خبرې هغه چې د خپل مقصود څخه اضافه کيږي،لکه: مقصد په يوه خبره پوره کيږي او ته بله کوې؛ نو دوهمه کلمه فضول ده.

الله ﷻ په دې باره کې فرمايي:

لَّا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا.[۳]

ژباړه: هيڅ گټه نه سته په ډېرو خبرو د دوی کې؛ مگر هغه څوک، چې امر په صدقې او يا په نيکۍ او يا په صلحه د خلکو په منځ کې وکړي.

يعنې بغير د دغه درې ډوله خبرو څخه نوري ټولي خبري فضول دي او د زړه لپاره په ضرر دي.

همدارنگه د بې ځايه خبرو په هکله احاديث په مختلفو مضمونونو سره راغلي دي، چې مونږ ورته مختصراً اشاره کوو.

من حسن اسلام المرء ترکه مالا يعنيه.[٤]

ژباړه: غوره اسلام د شخص لپاره پرېښودل دغير مناسبو عملونو دي.

ژباړه: نامناسبه خبرو پسې کوشش مه کوه له خپل دښمن څخه ځان لرې ساته.

د زړه او نورو باطني امراضو د علاج او درملنې لپاره له شرعي آثارو څخه يو څو نسخې ذکر کوو:

لومړی مطلب: دباطني امراضو علاج د الله ﷻ په ذکر کولو سره بهترينه شفاء ده. الله ﷻ فرمايي:

اَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ.[٥]

ژباړه: خبر اوسئ، چې دالله ﷻ په يادولو سره زړونو ته پوره اطمينان راځي.

دوهم د قران کريم په تلاوة سره: د باطني مرضونو بل علاج د قران تلاوت دئ، باطني امراض شبهات وي که شهوات د دواړو څخه قرانکريم شفاء ده؛ ځکه په قرانکريم کې داسې ښکاره او قاطع دلايل دي، چې شبهات او مرضونه ټول له منځه وړي او داسې حکيمانه خبرې او نصحيتونه پکښې دي، چې شهوت له منځه وړي. الله ﷻ فرمايي:

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ.[٦]

---

[۳] سورة النساء: ١١٤.

[٤] ترمذي شريف.

[٥] سورة الرعد: ٢٨.

[٦] سورة بني اسرائيل: ٨٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: نازل کړی دئ مونږ قران، چي هغه شفاء او رحمت دئ د مؤمنانو لپاره.

**دریم: داستغفار په ویلوسره:**

د باطني مرضونو یو بل علاج هم استغفار ویل دي، استغفارد الله ﷻ څخه دبخښني غوښتلو ته ویل کیږي، په قرانکریم کي هم استغفار ډیر ځلي ذکر سوی، کله پرې امر سوی دئ، لکه: چي فرمایي:

وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ. (۷)

ژباړه: او له الله ﷻ څخه بخښنه غواړئ، یقینا الله ﷻ بخښونکی او رحیم ذات دئ.

کله فرمایي، چي الله ﷻ هغه چا ته بخښنه کوي، چي استغفار وایي .

**څلورم د دعا په کولوسره:**

د دې مرضونو څلورم علاج دُعا ده. الله ﷻ خومره د سخا او جود خاوند دئ، چي بنده ته یې دخپلو اړتیاوو او مشکلاتو پوره کولو لپاره په دُعا غوښتلو باندې امر کړی دئ، فرمایي:

اُدْعُوْنِي اَسْتَجِبْ لَكُمْ. (۸)

ژباړه: له ما څخه دُعا وغواړئ زه به هغه قبوله کړم.

پنځم- پر نبي کریمﷺ باندي د درود په ویلو سره، له ابوهریره څخه روایت دئ، چي رسول اللهﷺ وفرمایل:

من صلي علي واحدة صلي الله علیه عشرا. (۹)

ژباړه: چا چي پرما یو ځل درود ووایه، الله ﷻ به پرهغه لس ځلې رحمت نازل کړي.

**پنځم، د شپې په تهجد کولوسره:**

د قیام اللیل په هکله ګڼ احادیث موجود دي، چي یو یې ذکر کوو. نبيﷺ فرمایي:

افضل الصلوة بعد المکتوبة قیام اللیل (۱۰).

ژباړه : غوره لمونځ د فرض لمونځ څخه وروسته د شپې تهجد کول دي .

دا کوم معلومات چی تا سو یې لولئ، الله جل جلاله دي یې په خپل دربار کي قبول کړي ا و الله جل جلاله دي یې ستاسو د زړونو لپاره شفا ء کړي.

---

## د معلم او طبیب احترام

په "کلیله و دمنه" نومي لرغوني کتاب کي ډېره مهمه خبره او پوهوَنه ذکر سوې ده:

په هره ټولنه کي باید د طبیب او معلم ډېر درناوی وسي، او د هغوی اهمیت باید درک سي: ځکه، که له ډاکټر سره جوړ رانه سې او قدر یې ونه کړې نو باید له خپل درد سره لاس او ګرېوان اوسې. او که د معلم قدر او مقام و نه پېژنې او احترام یې ونه کړې نو مجبورًا باید د جهالت او ناپوهۍ په غېږ ورسې.

په ربښتیا هم څومره پخه او کره پوهوَنه ده، یعني په زرګونو کاله وروسته نن هم د کاڼي کرښه ده. څه ښه یې ویلي دي چي د ډاکټر غلطي یو انسان له منځه وړي خو د معلم غلطي جامعه له منځه وړي!

---

(۷) سورة البقرة: ۱۹۹.

(۸) سورة المؤمن: ٦٠.

(۹) مسلم شریف.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسانیزم

محمد برات نشاط

د ښووني او روزني پوهنځي

د هیومنیزم حرکت په څوارلسمه پیړۍ کي په ایټالیا کي رامنځ سو او بیا اروپا ته او له هغه ځایه اسلامي هیوادونو ته راداخل سو. هیومنیزم دکمونیزم دوهم رنګ او نوم دئ ،یعني دا هم هغه ګمراه کوونکې نظریه ده چي انسانان د الله ﷻ، رسول ﷺ او کتاب نه منلو ته رابولي . د روا او ناروا حق او نا حق تله او ترازو انسان بولي. دهیومنزم کلیمه د انګلیسي ژبې له Human څخه اخیستل سوې ده چي انسان ته وایي او په اصطلاح کي هغه کفري او پر الحاد د خدای ﷻ له وجود څخه په انکار ولاړه مفکوره ده چي له الله تعالی ﷻ څخه د الوهیت( خدایي ) حق اخلي او انسان ته د خدای(ج) مقام ورکوي. چي دلته زموږ په هیواد کي د امریکا له یرغل سره سم دا نظریه هم را غله او یو شمېر خلک ورته ښه په ښکاره د انسانیت تر عنوان لاندي سمینارونه او مجلسونه جوړوي، او د انسان او انسانیت په نوم مجلې او اخبارونه چاپوي او خپل ګنده افکار افغان ځوان او نوي نسلونو ته یې پیچکارۍ کوي.

ددې مفکورې او نظریې خباثت او اصلیت عامو خلکو او هم هغو لوستو ځوانانو ته نه معلومیږي، کومو چي اسلامي عقیده په هر اړخیزه توګه ویلې او مطالعه کړې نه وي، یعني کشف یې یوازې د قوي پوهې او اسلامي فکر مطالعه کوونکي کولای سي .

د دوی شعار یوازي انسانیت او انسانیت ته ارزښت ورکول دي، دې ته یې نه ګوري چي دا هندو، یهودي، صلیبي او کافر دئ بلکي چي انسان وي دوی ورته په درنښت قایل دي، که څه هم دا شعار ډېر خوږ او د خلکو دخوښي وړ دئ خو په عمل کي هغه وحشتونه تر سره کوي چي انسانیت ترې پناه غواړي، په حقیقت کي هم دوی انسانیت تر پښو لاندي کوي، نن سبا چي په برما، سوریه، فلسطین او افغانستان کي کوم وحشتونه او ظلمونه روان دي، کیمیاوي وسلې او بمونه پرې غورځول کیږي او په زرګونو مسلمانان په شهادت رسیږي، چي د دې بمباریو قرباني هم سپین ږیري، ځوانان، ښځي او ماشومانان دي، دلته بیا هیومنستان خپل حیثیت هېروي او په ډېره بې شرمۍ سره ورته توجهات لټوي.

یوازي یې په افغانستان باندي(٦٠٠٠) بمونه وغورځول چي په دې باندي دوی خپله هم اعتراف وکړ، دابمونه چي پرې غورځېدل او د شپې له خوا به چاپې پرې وهل کیدې، ایا دا انسانان نه وه؟ دا ټول هغه وحشتونه دي چي هیومنستان یې د انسانیت ترنامه لاندي کوي.

---

## فردي اخلاق

که یو چا ستا ډېر احترام او عزت وکړ، معنی یې دا نه ده چي ته حتمًا ډېر ښه انسان یې، بلکي معنی یې دا ده چي (که ته ښه یې یا نه) هغه له شکه پرته ښه انسان دئ.

نو راځئ چي د عزت، عزت وکړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحاج هدایت الله فیضي

# دښاغلي ایمل (امیدي ) لنډه پیژندنه



ایمل (امیدي ) د الحاج صدیق الله خان زوی او د حاجي محمدصدیق لمسي له نن څخه (۳۵) کاله وړاندي د زابل ولایت په مرکز کلات کي نړۍ ته سترګي پرانیستې. لومړنۍ او منځنۍ زده کړي یې د کلات ښار د شیخ متې په عالي لیسه کي په ښو نمرو ترسره کړې، د نا مساعدو شرایطو له امله څرنګه چي په زابل ولایت کي ترنهم ټولګۍ پورته ښوونځی نه وو، ایمل امیدي هم د لیسې دوري د بشپړولو په خاطر د پروان ولایت ته ولاړ، د پروان ولایت د شهید سیدباشي له لیسې څخه په (۱۳۸۲ش.) کال په اعلی درجه فارغ او د بکلوریا سند یې تر لاسه کړ. د راتلونکي کال لپاره یې د مرکزي حوزې ازمویني ته تیاری نیوه چي د ځوانیمرګ ورور شهید معلم سهراب نابیره شهادت د امیدي د امیدونو دنیا تپه تیاره کړه، د ورور شهادت نه دا چي ایمل امیدي یې د دنیا له ډیرو خوښیو بې برخي کړ بلکي د لوړو زده کړو له کاروان څخه هم پاته سو.

کله چي ایمل امیدي د ښوونځي زده کوونکی وو (دترنک په څپو کي ) مهالنۍ جریده یې چلوله، چي په دغه جریده کي به یې په ډیرو محدودو امکاناتو د ډیرو فرهنګیانو او فرهنګپالو د زړه اواز تر مینه والو رساوه، د ایمل امیدي دغه بیساري چوپړ په زابل کي د فرهنګ او ادب ډګر ته د یو پل حیثیت اختیار کړ، چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي جريدې په مټ اميدي صاحب وتوانيدی چي ډېر نوي راټوکيدلي استعدادونه د فرهـنګ او ادب د لاري لارويان کړي .

اميدي صاحب د خپلو هلو ځلو لمن نوره هم پراخه کړه، د زابل د يو شمېر نورو فرهنګيانو په شمول يې د شيخ متي ادبي ټولني بنسټ کيښود او د دغي ټولني له لاري يې هم پراخ ادبي خدمتونه ترسره کړل. د "شيخ متې په لمن کي" هغه جريده وه چي اميدي صاحب دنورو فرهنګي ځوانانو په شمول د زابل لپاره نه ستړي کيدونکي فرهنګي او ادبي هڅي پکښې ترسره کړي، که څه هم ايمل اميدي په هغه وخت کي د کلات په ملکي روغتون کي وظيفه اجرا کول، خو د فرهنګ او ادب ډګر يې پرې نه ښود، په ډيرو ناچيزه امکاناتو يې که په زغرده ووايو په نه امکاناتو يې دا جريده په خپل لاس ډيزاين، کاپي او پښتنۍ کوله او د مينه والو تر لاسونو يې رسوله، د شيخ متې په لمن کي جريده به يې د زابل د مرکز کلات څخه علاوه د دغه ولايت ولسواليو او ليري پرتو کليو ته هم رسوله .

ايمل اميدي د فرهنګي مجلسونو په جوړولو کي هم خاص مهارت درلود، اونيزي مشاعرې، د ليکوالو پر ليکنو د نظر د خاوندانو نظرونه او کره کتني، د بادام ګل دوديزه کلنۍ مشاعرې او يو شمېر نور فرهنګي خدمتونه وه چي د ايمل اميدي ورځنی ژوند يې بوخت ساتلي وو.

د ايمل اميدي نوی نوښت او ابتکار د زابل فرهنګيانو هله احساس کړ چي نوموړي د خپلو بې کچي هڅو په پايله کي په دې وتوانيد چي د زابل د فرهنګيانو ترمنځ يې اتحاد او يووالی رامنځ ته کړ. اميدي د خپلو هڅو په پايله کي په دې وتوانيد چي زابل ميشتي ټول اديبان او فرهنګيان د(زابل ادبي بهير ) تر چتر لاندي راټول کړي. په زابل ادبي بهير کي د زابل هغه نوي ځوانان چي تازه دمه يې دې ډګر ته مخه کړې وه، د نورو شاعرانو له تجربو او علمي مشورو څخه په هره برخه کــې برخمن سول .

ايمل اميدي خپل فرهنګي چوپړ تر زابل پوري محدود نه کړ، د کابل څخه د خپرېدونکي مجلې (شنې پاڼي ) مرستيالي يې په غاړه واخيسته او د هيواد په کچه يې د فرهنګيانو، شاعرانو او ليکوالانو د زړونو اواز ته لبيک ووايه.

د ايمل اميدي چاپي اثار چي دا مهال د لوستونکو په لاس کي دي، څلور بابه ناولونه هر يو (د ميني جال)، (جرم او جزا)، (که زه درسره نه وم؟) او (دې نصيب ته شوم حيران) ناول او هم يو باب د زابل د شاعرانو تذکره (څپې څپې ترنک) او دوه تحقيقاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثرونه (دکامیابۍ په لور) او ( په اسلام کي نارینه ته خلور ښځي ولي روا دي ؟) او یوه شعري ټولګه يې (تنها نه یم) ده، خو د نوموړي قلم اوس هم تاند او په نا چاپ سوو اثارو کي يې یو بل ناول(اوس مي هم زړه کي اوسیږي)، یو د خوږو خبرو (پیپلي ملغلري)، یو هم ( دزابلي شاعرانو دوهمه تذکره) او یوه بله شعري ټولګه (دا دي هم ستا په نوم وي) ده چي دا مهال د چاپ انتظار کوي.

ایمل امیدي واده کړی خو د ژوند ثمره لا تر دا مهاله نه لري، د لوی خدای و دربار ته د امیدي صاحب د خوشاله ښیرازه او بریالي ژوند په هیله د دوعا لاسونه لپه کوو.

د نوموړی په ژوند، شاعري او فن باندي ډیرو محصیلینو د پوهنتون د دورې مونوګرافونه اوتیزیسونه لیکلي دي، چي له جملې يې ښاغلي حضرت الله توخي د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتوڅانګي څخه خپل علمي او اکاډومیک مونوګراف (دایمل امیدي ژوند او فن) په (۱۳۹۵ش.) کال ورباندي لیکلی دئ.

ښاغلي عصمت الله حیران د همدا ډول ښاغلي محمد اصغر ساجد ورباندي مونوګرافونه لیکلی او د ښاغلی ایمل امیدي علمي او څیړنیز ژوند يې له هر اړخه څېړلی او ارزولی دئ.

د یادولو وړ ده چي ښاغلی ایمل امیدي د خپل فرهنګي ژوند په دوام کي له صوتي رسنیو سره هم د پام وړ ملګرتیا کړې او د ویاندويي په فن کي يې هم خپل ولس او خلکو ته د پام وړ خدمتونه کړي دي، چي له جملې يې د (۱۳۹۲ش) کال څخه تر(۱۳۹۳ش) کال پوري يې د زابل په ملي راډیو کي د ادبي او فرهنګي خپرونو کوربتوب کاوه او د دې ترڅنګ يې په (۱۳۹٤ش) او (۱۳۹٦ش) کال يې د زابل په مرکز کلات کي د ترنک په نوم له خصوصي راډیو سره خپله همکاري جاري ساتله. پوره دوه کاله د نوموړي خصوصي راډیو مرستیال مشر پاته سوی دئ.

ښاغلي ایمل امیدي ته د هوسا، ارام او نېکمرغه ژوند ترڅنګ په علمي او فرهنګي ډګر کي د ولس د چوپړ او خدمت لپاره د دعاء لاسونه لپه کوو. د امیدي صاحب د خوشاله، سرلوړي او آباد ژوند په هیله.

**د ایمل امیدي ادبي اوفرهنګي فعالیتونه :**

۱: لومړی په "شیخ متي علیه رحمه ناپیيلي ادبي ټولنه" کي غړیتوب په (۱۳۸۲) لمریز کال پیل او تر (۱۳۸۵) لمریز کال پوري دوام وکړ او د دې سربېره د دې ټولني د مسؤل مدیر په حیث يې کار کاوه.

۲: د "ځوانانو ټولنه" له (۱۳۸۵ش) څخه پیل تر (۱۳۸۸) لمریز کال پوري دوام وکړ او د دې ټولني غړیتوب يې درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: په "سورغر ادبي بهير" کي غړیتوب له (۱۳۸۸) لمريز کال څخه پیل تر (۱۳۹۱) لمریزکال پوري پوره غړیتوب درلود.

٤: د "ترنک ادبي ټولنه" سره غړیتوب له (۱۳۹۱) لمريز کال څخه پیل تر (۱۳۹۲) لمریز کال پوري پوره غړیتوب درلود.

٥: په "زابل ملي ادبي بهیر" کي له (۱۳۹۳) لمريز کال څخه پیل تر (۱۳۹٦) لمریز کال پوري .

**د مجلو او اونیزو مسئولیتونه :**

۱: د "ترنک په څپو کي" د یوه میاشتنۍ جریدې مسؤل مدیر.

۲: د "شیخ متې په لمن کي" د یوه میاشتنۍ جریدې بنسټ اینښودونکی او مسؤل مدیر.

۳: د "شنې پاڼې" میاشتنۍ مجلې مرستیال (۱۳۸۷) لمريز کال.

**شعرونه چي په ډيرو اخبارونو او مجلو کي چاپ سوي دي:**

زابل کلات اوونیزه اخبار، زابلستان اوونیزه اخبار، د شیخ متې په لمن کي جریده، د ترنک په څپو کي جریده، طلوع اخبار، صداي بهار اخبار، شنه پاڼه مجله، کلید مجله، پروان اخبار، سور غر اخبار، هوسۍ مجله، نازو انا مجله، شیخ متې مجله.

**په انټرنيټ پاڼو کي خپرې سوي ليکني، کتابونه او شعرونه:**

لر او بر سایټ، بېنوا سایټ، افغان ننګ سایټ، خبریال سایټ، تاندسایټ.

**په راديوګانو کي کارونه :**

۱: په زابل ملي راډیو تیلویزون کي د ادبي خپروني چلوونکی (۱۳۹۲ش) څخه تر (۱۳۹۳) لمریز کال پوري.

۲: په ترنک راډیو کي د (۱۳۹٤) لمريز کال څخه تر (۱۳۹٦) لمریز کال پوري د راډیو د مرستیال مشر په حیث او د ادبي خپرونو چلوونکی.

---

## د هڅوب هنر

یو سړي بهلول ته وویل: زما مېرمن په کوچنۍ خبره غوسه سي، جنګ او شور کوي، زه څه ورسره وکړم؟

بهلول وویل: تر پنځلسو ورځو يې غوسه وزغمه او چي له غوسې ارامېده ورته وایه ته ډېره ښه انسانه يې، شکر چي تا لرم!

تر پنځلسو ورځو وروسته سړی بهلول ته راغلی او ويې ويل چي ستا خبري کار وکړ، خو څنګه داسي وسول؟

بهلول وویل: ځینی انسانان ذاتًا بد وي چي هغوی لاري ته نه سو راوستلای، خو ځيني انسانان بیا ټولني او موږ بد کړي دي. که ور په یاد کړو چي ښه خلک دي نو حتمًا ښه کیږي!

هو! ډېر انسانان سمون ته چمتو وي خو بس یوه هڅونه خو پوري وهنه غواړي او دا هنر د ډېرو کسانو زده نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**عبدالقاسم زابلي**

د حقوقو سياسي علومو پوهنځی

# ځوان نسل ته پاملرنه!!

دا موضوع مي ځکه ښه وبله او ليکنه مي ورباندي وکړه چي، ځوانان د ټولني د ملا د تير حيثيت لري. ټولنه پر ځوان نسل باندي تکيه کوي او ځوان نسل کولای سي تر خو خپله ټولنه له نورو ټولنو سره سياله جوړه کړي، خو دلته نه خپله ځوان نسل دې ته پام کړی چي دا ټولنه او دا هيواد زما ښځه کار غواړي، زه بايد ځان دې ته اماده کړم ترڅو په دې وروسته پاتي ټولنه کي مثبت تغيرات راولم. او نه هم مشرانو د قدرت او واک ښښتنانو ځوان نسل دې ته هڅولي دئ تر څو د وروسته پاتي هيواد لپاره کار وکړي، يعني هيڅ پاملرنه ورته نه ده سوې.

لوستي ځوانان د ټولني لاس او پښې دي. ددې ځوان نسل په واسطه په ټولنه کي مثبت تغيرات راتلای سي، نو لوستو ځوانانو ته بايد پاملرنه زياته وسي او له پامه ونه غورځول سي. يوه ټولنه هغه وخت د پرمختګ لوړو پوړونو ته رسېدلای سي چي، ځواکمن او با مسؤليته ځوانان ولري، ځکه چي ځوانان د ټولني مهم عناصر شمېرل کيږي. ځوانان کولای سي د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریعت په رڼا کې د مثبت ذهنیت په درلودلو سره هیواد د شته ستونزو او کړاونو څخه د پرمختګ لوړو پوړونو ته ورسوي. په دې کې هیڅ شک نه سته چې، د یو هیواد او ټولني ترقي او پرمختګ د هغې ټولني په ځوان نسل پوري اړه لري او همدا ځوان نسل دئ چې، د راتلونکي ټولني سبا ورځي مسؤلیتونه ور په غاړه کیږي تر څو چې ټولنه د یوې ښې راتلونکي پر لور رهبري کړي.

له بده مرغه زموږ په جنګ ځپلي هیواد کي د اوږدې جګړې له کبله زموږ د هیواد یو زیات شمېر ځوانان او ځوان نسل نه یوازي دا چي د لومړنیو او لوړو زده کړو څخه بې برخي سول، بلکي یو زیات شمېر یې د بې کارۍ او بې روزګارۍ له امله د جنګ په لیکو کي ودرېدل او ځیني نور یې لا په بهرنیو هوادونو کي د مهاجرت او سر ګردانۍ ژوند په لا لهانده شپېو کي تیروي .

دا چي د افغانستان په روان حالت کي ځوان نسل ته هیڅ پاملرنه نه ده سوې او د هر موقف خښتن ځوان نسل ته یوازي په هغه وخت کي توجو اړوي چي، ضرورت یې پیدا سي، یعني د خپلو ګټو د ساتلو په خاطر ورته پاملرنه کوي، خو لوستي ځوانان باید خپله لاس پکار سي، لاسونه سره ورکړي او یو بل سره نظرونه تبادله کړي. دا چي افغانستان په یو بد وضعیت کي قرار لري هغه که نا امنی، رشوت، فساد ... دي نو یو عمده لامل یې ناجوړه فکرونه دي، دا فکرونه د لوستو  بااحساسه ځوانانو په واسطه جوړېدای سي. لکه څرنګه چي په افغانستان کي خود غرضه او خپلو ګټو ساتونکو مشرانو ځوانانو ته د دې فرصت نه دئ ورکړی ترڅو خپلي مثبتي نظریې او اندونه د هیواد او اولس د ژغورلو لپاره وکاروي، دوی ځوانان انحصار کړي او د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره یې کاروي او د ځوانانو له تازه او نوښتګرو استعدادونو څخه د ځان په ګټه منفي استفادې کوي.

دغه کسان تل د هغو ځوانانو په لټه کي وي چي د دوی د قدرت د ساتلو د لږ او ناځیزه امتیاز په بدل کي کار وکړي ااو د خپل واک د دوام لپاره یې په سیاسي ډګر کي وکاروي. ځوانه مستعده طبقه باید د خپل فکر څخه کار واخلي او هیڅ کله د خود غرضو په دام کي ګیر رانه سي . زما په آند د افغانستان د ژغورلو لپاره د ځوان نسل پیاوړي ارادې، علمي او عملي طرحو اندونو او ملی یوالي ته ضرورت دئ، ترڅو ټول هغه لوستي او با احساسه ځوانان د موجوده وضعیت ختمولو او د یو نوي فصل د رامنځته کولو لپاره کار وکړي. لوستي ځوانان هغه زړه نازړه، هغه بې ارادې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د بل د ګټو ښکار او هغه تیت پرک ځوانان خپلو منځو ته دننه کړي، او په ګډه یو علمي او فکري مبارزې ته دوام ورکړي. د هري شته ستونزي مخنیوی باید همدا ځوانان وکړي، د هر هغه چا او هر هغه عمل چې د اسلام او هیواد په زیان وي په جرٔت سره راپورته سي او هغه له منځه یوسي.

راځئ ځوانانو چې په ګډه د خپل هیواد لپاره هر درد ته سپر سو، د نن او سبا خپل لوی رسالت په ښه توګه ادا کړو خو دا کار به هغه وخت کیدونکی وي چې د مغرضو، مضرو او تش په نامه ډلو ټپلو څخه د خپلي علمي او منطقي قوې څخه په استفادې جدا او خپل منځ کې یو د بل د زغملو فرهنګ خپور کړو .په آخر کې د یو ځوان په حیث مې له ټولو ځوانانو څخه غوښتنه دا ده چې، راسئ ټول سره یو ځای سو، خپله لاس پکار سو تر څو به د بل د ګټو ښکار یو، تر څو به نورو ته چکچکې وهو، موږ او تاسو ښه ښه استعدادونه لرو، ښه ښه فکرونه لرو خو هیڅ کار مو نه دئ ځنې اخیستی، همدا یې وخت دئ او باید لاس تر زنې نه کښېنو.

موږ او تاسي باید په دې پوه سو چې تاریخ به زموږ په هکله خپله عادلانه پریکړه کوي .راځئ د خپل سپیڅلي وجدان پر مټ په هیواد کې د سپڅلتیا او ربښتینی خدمتګاري انقلاب په څپو راولو او د دې کړېدلي او زوربېدلي ولس لپاره په صداقت کار وکړو او دې موجوده نا خوالو ته د پای ټکی کښېږدو.

---

## پخپله د ځان راز داره اوسه!

هر څومره چې نورو ته خپل راز ډېر وایې په هغه اندازه به زیانمن او خوږمن یې. معنی دا چې پر خپل ځان بې باوره یې چې رازونه دې ډېرو کسانو ته وایې. ته چې خپل راز پخپله نه سې ساتلای، نور به یې څنګه در وساتي!؟

دغه کار به دې رټلی او ترټلی لري. دا ځکه چې ډېر خلک ناځوانه دي خو ته بې ځایه خوشبین یې.

## د مرګ او ژوند واټن

ابن رُشد څه ښه ویلي دي:

"یوه دا دنیا ده او یو بله دنیا ده (یوه دنیا او بله عقبا ده). د دواړو تر منځ واټن فقط یوه ساه ده. که ساه روانه وي نو دا دنیا ده او که ودریږي نو هغه دنیا ده!"

## له ځان سره احسان

که یو انسان په خپل ټول ژوند کي وکولای سي چې یو نفر سمي لاري ته راولي همدا هم کفایت کوي، حتی که هغه نفر دی پخپله وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library





**احمد رښتین**

اقتصاد پوهنځی

# افغانستان د اقتصادي جګړې په درشل کي

که وګورو د افغانستان د جګړې یو اړخ تر ډېره اقتصادي دئ او دا برخه د جګړې تر ډېره پر زېرمو او د غرونو مینځ کي د اوبو پر سر ده، چي نړیوال استخبارات او همسایه ګان یې مخته وړي. د ګران افغانستان اوبه زموږ همسایه ګانو ته د ژوند په مانا دي او خپل ټول اقتصاد د دې اوبو په مټ بډایه کوي، د اوبو خوندي کولو سوژه چي هر واک مشر ورته لومړیتوب ورکړی، په وړاندي یې سیاسي، اجتماعي او تبلیغاتي خوځښتونه د همسایه ګانو په مټ را پورته سوي دي، په دوهم قدم کي د زېر بنا یا زېرمو ساتل او یا د هیواد د اقتصاد پیاوړتیا په سکتور کي د اوبو او زیرمو کارولو لپاره د همسایه ګانو وېره هغه څه دي، چي دلته د جګړې سوژه یې ډېورنډ ګرځولې، خو تر ټولو ستر لامل د دې جګړې اوبه او زموږ د اقتصادي پیاوړتیا له وېري د زیرمو کارول دي. اقتصادي جګړه تر ډېره اوس د نړۍ د هیوادونو ترمینځ رامینځته کېږي، ولي په منځنۍ اسیا کي یوازې افغانستان دئ، چي په ځان پوري یې د آسیا نیمی هیوادونو اقتصاد تړلی نو ځکه دوی دلته د استخباراتو په مټ جګړې ته شدت ورکوي او دا سیمه ارامتیا ته نه پرېږدي. زه د دې سیمي له اقتصادي انحصار څخه د خلاصون او د جګړې له شدته د خلاصون یوه لار د خپلو اوبو سم مهارول او مدیریت کول هغه څه بولم، چي موږ پر خپلو پښو دروي. د دې ترڅنګ د زېرمو ساتل او کنټل یې هغه څه دي، چي موږ په یو نغد اقتصاد بډایه هیواد باندي بدلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي څنگه يې مهارولای سو، اړينه ده، چي د مرکزي اسيا د هيوادونو له پاليسيو څخه د اوبو په مهارولو کي گټه واخستل سي، ددې ترڅنگ د اسيايي جگړې له دوو سيالو هيوادونو لکه چين او هند څخه په دې برخه کي گټه پورته کړو، د اوبو مهار سيمي ته د پوره رغنيزي پانگوني او د هغو سيمو لکه کنړ، فراه، هرات او.... په زياترو برخو کي د ولس هيښووني او فکري جوړتيا په پار حکومتونه خپل فعاليتونه زيات کړي، هغه سيمه کي د سيمي په کچه ملي اجماعيزه فعاليتونه زيات کړي، تر څو هلته د اوبو مهار او کار لپاره زمينه مساعده سي. په هغو سيمو کي د استخباراتي جگړو تر ډېره مخه ونيسي او خپله ټوله توجو د همدې اساسي پروژو پر جوړېدو وکاروو.

موږ د آسيا لپاره د يوه پُل په توگه مېشت هيواد يو، چي تر ډېره د ټولو هيوادونو پروژې زموږ د خاوري له لاري تطبيقيږي، لکه د پاکستان برق او د هند گاز چي له ترکمنستان څخه يې زموږ د خاوري له لاري انتقالوي، دا ځکه زموږ د خاوري له لاري دوی ته لنډ او په يوه مستقيم لاين بدليږي. اکثره همسايه گان مو خوښ دي، چي پر امنه سيمه باندي بدل سو ولي زياتره ځکه نه غواړي، چي هغوی زموږ خاوره محکومه کړي او د هغې له ويري څخه نه پريږدي، چي موږ پر ځان بسيا هيواد سو. زموږ غرونه، زراعت، کانونه، اوبه او زېربناوي هغه څه دي، چي موږ کولای سو د منځنۍ آسيا اقتصاد پياوړی کړو، که د لاجوردو لاره، يا مرکزي دهلېز او يا هم د پنځو هيوادونو مشترکه نقطه، چي افغانستان دئ، د يوې بلي تجارتي دوبۍ په نامه بدل سو نو د دې ستراتيژيک موقعيت په درلودلو سره هيڅکله همسايه گان نه غواړي، موږ بدل سو البته يو نيم همسايه گان.

اوس په کار ده، چي د نوي نسل د روزلو په مټ د يوې عمومي اجماع په رامينځته کولو سره تر هر څه مخکي موږ د خپلو زيرمو او اوبو لپاره يوه ملي اجماع رامينځته کړو، تر څو د جگړې اقتصادي بې وزلي ختمه سي او تر ټولو اړينه د مهاجرو بيرته راستنېدل او هغوی ته د کار زمينې برابرول موږ له دې شته ناورينينو څخه خلاصوي.

موږ يو پر امنه، هيوادپاله او اسلامپاله ملت يو، لامل ده، چي پورته کېدو ته مو نه پريږدي.

## ځان ته متوجې يې!؟

له يوه بزرگ څخه مي وپوښتل چي نصيحت را ته وکړه.

هغه وويل چي کله دي لوښی پرېولی دئ او څه دي ترې زده کړي دي؟

ومي ويل چي لوښی او نصيحت څه تړاو سره لري؟

ويې ويل چي لوښی له دباندي څخه لږ او له دننه څخه ډېر پاک پرېولل کيږي. نو ته له دننه څخه ځان پاک ومينځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library





**انجنیر امان الله حقیار**

اقتصاد پوهنځی

# د مسلمان نسل زیاتېدل او پر ضد يې پلانونه

څېړونکي او محققين ټول په دې خبره يوه خوله دي چې، د اسبابو په نړۍ کي د طاقت پرېکړي جغرافيايي مساحتونه نه بلکي افرادي قوت او بشري ځواك کوي، د پرمختللو وسايلو او عصري ټيکنالوژۍ په دې دور کي لا هم کابو ټول پوهان په دې حقيقت اعتراف کوي چې وړاندي والی او غلبه به يوازي د هغه ملت په برخه وي چې، ډېر مړونه ولري، خو د غرب له بده مرغه چي په دې ډګر کي دا مهال د سترو ننګونو سره مخامخ دئ، دنفوس مخ پر زياتيدونکي کمښت د لويديځ لپاره راتلونکی تر ټولو ستر بشري ناورين دئ، چي امريکايان او اروپايان يې سخت اندېښمن کړي دي خو چي د مخنيوي لپاره يې پورته سوي ټول ګامونه د فطري اصولو څخه ډېر ليري دي نو د ګتې په پرتله يې تاوان زيات کړی دئ او نوي ستونزي يې زېږولي دي .

په امريکا او اروپا کي د نوو کوچنيانو د زېږېدلو فيصدي ۷، ۱ ده، خو په اسلامي نړۍ کې ۵، ٦ ده . په امريکايانو کي د شنډتوب د مخ په زياتيدونکي مرض په باره کې په(۱۹۹۵م) کي د نيوز ويك نومي امريکايي جريدې يوه ځانګړې ګڼه خپره سوې وه چي پکښې د امريکايي شنډو فاميلونو شميره ۵ ميليونه او ۳ سوه زره ښودل سوې وه ،جرېدې د National center for

(c) ketabton.com: The Digital Library



health statistics نومي تحقیقاتي اداري په حواله لیکلي وه چي، په (۱۹٦٥م) کي د شنډتوب د مرض فیصدي په امریکایانو کي ۴، ۱۴ وه، خو تر (۱۹۹۵م) پوري دا فیصدي ۵، ۱۸ ته لوړه سوه . امریکایي پوهان د دې ځانګړی لامل دجنسي غوښتنو د پوره کولو لپاره دغیر فطري لارو انتخاب او د ودونو نشتوالی یا پکښې وروسته والی بولي .

په غربي ټولنو کي د انساني نسل د مخ په زیاتیدونکي کمښت د مخنیوي لپاره د امریکا او اروپا دولتونو ځیني اقدامات هم کړي دي، مثلاً : د کومو کوچنیانو چې پلاران نه وي معلوم قانوني تحفظ ورکړل سوی دئ، کومې میندي چي حرامي اولادونه زېږوي د دولتونو له لوري د ډېرو آسانتیاوو نه برخمني وي، بېله واده ازدواجي روابط ومنل سول او د بهرنیانو سره د ودونو کولو لپاره وګړي وهڅول سول، خو چي دا لاري چاري دخدایي قوانینو او د فطرت د غوښتنو څخه لیري وي نو تاوانونه یې دوی هم اوس د سر په سترګو ویني او د مشکل د حل لپاره د نوو لارو په لټه کي دي، خو فطرت ته د راګرحیدلو او د اسلامي لاربښوونو د قبلولو پرته به د بریالیتوب یوه لار هم ونه مومي .

په (۱۹۸۴م.) کال کي د اروپایي اتحادیې له لوري په دې موضوع جوړ سوي کانفرانس کي یو پرېکړه لیك صادر سو چي پکښې د ټولو غړو هیوادونو څخه د داسي ګامونو پورته کولو غوښتنه سوې وه چي، له امله یې په غربي ټولنه کي د کوچنیانو په زېږولو کي زیاتوالی راسي، په پرېکړه لیك کي په دې خبره سخته اندېښنه څرګنده سوې وه، چې په (۱۹۵۰م.) کال کي د نړۍ په انسانانو کي اروپایان ۸، ۸ فیصده وه چي تر (۲۰۲۵م.) کال پورې به دافیصدي ۲ ته راکوزه سي چي د یوې پیړۍ نه هم په کم وخت کي څلورمي برخي ته راکوزېدل په خپل ذات کي ډېر سترکموالی دی. "امریکن انټر پرایزز انسټي ټیوټ" نومي اداري په (۱۹۹۵م.)کال کي په خپل یو راپور کي لیکلي وه چي، د نفوس تناسب ته په پام کي نیولو سره ویلای سو چي کمزوري ولسونه به په راتلونکي کي ځواکمن سي او ستر ځواکونه به د نفوس د کموالي له امله له منځه ولاړ سي .

د مسلمانانو د نسل زیاتوالی متعصب لویدیځوال سخت اندېښمن کړي دي، هغوی وایي چي یوه عامه یمنۍ ښځه لږ تر لږه ۷ اولادونه زېږوي، که تر راتلونکو درو نسلونو پوري د کوچنیان د زېږولو تناسب همداسي وي نو د هري یمنۍ ښـځي به په درو نسلونو کي ۴۹ لمسیانو ، ۳۴۳ کړوسیانو او ۲۴۰۱ کودیانو نړۍ ته سترګي غړولي وي، خو برعکس د المان، هسپانیا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایټالیا په شمول د اروپا د اکثرو هیوادونو زیاتره ښځي یوازي یو بچی راوړي چي په دې توګه درې نسله پس به د هري اروپایي ښځي یوازي یو بچي، یولمسي، یو کړوسي او یو کودي نړۍ ته سترګې غړولي وي ، درې نسله پس د یو اروپایي په مقابل کي د ۲۴۰۱ مسلمانانو راتلل د عمل په نړۍ کي ضروري نه دي خو صلیبي متعصبینو ته یقیني ښکاري او همدې حساب کتاب سخت وارخطا کړي دي او په دې وېره کي دي چي که خبره همداسې روانه وي نو په راتلونکو څو لسیزو کي به د نړۍ نقشه بیخي بدله سي .

په (۱۹۸۸م.) کال کي د "امریکن ډیفنس ډیپارټمنټ" نومي مرکزي اداري په خپور سوي تحقیقي راپور کي د انساني نفوس د زیاتوالي په بې اندولۍ سخته اندېښنه څرګنده سوې وه، او پکښې راغلي وه چي د نفوس د زیاتوالي له امله به په راتلونکو څو لسیزو کي د فوځي ځواك په نړیوال توازن کي ستر بدلون رامنځته سي، په راپور کي د امریکا د پالیسي جوړوونکو کړیو څخه په کلکه غوښتل سوي وه چي د انساني نفوس د زیاتوالي مخنیوي ته دي همدومره توجه وکړي څومره چي د عامه وژونکو وسلو نه خپراوي ته کیږي .

د امریکا څېړونکي ځکه د زیات تشویش ښکار دي چي د هغوی د اټکلونو له مخي به په (۲۰۲۵م.) کال کي د امریکا نفوس د تایوان د نفوس څخه هم کم وي، د ایران نفوس به د جاپان سره برابر سي او د ایتوپیا نفوس به د فرانسې د نفوس څخه یو پر دوه سي .

د اشتراکي یا کمونیستي نظام د ړنګېدو څخه وروسته یوازینی اسلامي نظام دئ چي د غربي پانګوال نظام په مقابل کي ولاړ دئ او د قومونو د متحد کولو صلاحیت هم لري، نو ځکه د مسلمانانو د نفوس زیاتوالی غرب د ستري وارخطایۍ سره مخ کړی دئ. وایي چي نامتو لوېدیځوال څېړونکي EB وایي چي: "په نړۍ کي د انساني نفوس د زیات ډېروالي اوکموالي د فرقونو د له منځه وړلو لپاره موږ یوازي دوې لاري لرو، لویدیځ دي خپل نفوس زیات کړي او یا دا چي د دوهمي نړۍ د نفوس د کموالي لپاره هر ډول هڅي وسي، د لویدیځوالو لپاره خو د نفوس زیاتول ناشوني دي ځکه چي په غرب کي د کوچنیانو د تولد فیصدي ډېره ټیټه ده او د لوړوالي لپاره یې دولتي او انفرادي سوي ټولي هڅي ناکامي سوي دي او نوي هڅي په ډېره لوړه بیه پرېوځي، د "ټیسټ ټیوب بي بي" له لاري د نفوس د زیاتوالي کوششونه روان دي خو د دې مصارف ډېر لوړ دي، بل لور ته د غرب د نوي کلتور له مخي ښځي د کوچنیانو پالل د ځان لپاره یو مصیبت او ستونزمن عمل بولي، غرب چي د خپل نفوس د ډېرولو د لاري څخه ناهیلي سوي اوس یې دوهمه لار غوره کړه او په دوهمه نړۍ کي عموماً او په اسلامي نړۍ کې یې په ځانګړي ډول د انسانانو د زیاتوالي لپاره بېلابېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسايل په کار واچول او له هر ډول توطئو څخه يې استفاده وکړه .

په جنوبي افريقا کي له پېړيو پېړيو سپين پوستي واکمن وه، تورپوستو به تېوله ورځ په ښار کي کار کاوه خو په ښار کي يې د اوسېدو ځای نه درلود، له ښار څخه دباندي به په کوډلو کي اوسېدل، د سپين پوستو روغتون، بس تم ځای او هوټل ته د ورتللو حق يې نه درلود. په (۱۹۵۱م.) کال کي تور پوستي د سپين پوستو درې برابره وه، يو نسل وروسته دا پنځه برابره ته ورسېدل، د تورپوستانو د نفوس دې زياتوالي سپين پوستان مجبور کړل چي يوازي د خپل تجارت او شتمنيو ساتنه وکړي او سياسي واکداري له لاسه ورکړي.

همداسي اسرئيل در واخله، د عربي کورنيو په پرتله د دوی کورنۍ ډيري وړې وې او د نوو کوچنيانو د زېږېدلو فيصدي هم ډيره ټيټه وه، نو د دې لپاره چي په راتلونکو کلونو کي د عربو په وړاندي اقليت ونه ګرځي نو له اروپايي ملکونو څخه يې زرګونه يهودي کورنۍ راوستلې تر څو دا خلا ډکه کړي.

همدارنګه په لبنان کي يو وخت عيسويان اکثريت ووه، يعني د شپږو عيسويانو په مقابل کي پنځه مسلمانان وه، خو د مسلمانانو د چټکي ودي له امله نن مسلمانان ٪۷۲ او عيسويان ٪۲۸ ته رسيدلي دي. همدارنګه استراليا يو پر مختللی هيواد دئ خو د ماليې وزير يې يوې غونډې ته وويل چي: په تيرو ۴۰کلنو کي يې عايد ځکه د پام وړ تغير نه دئ کړی چي نفوس يې ورځ تر بلي د کمښت په حال کي دئ او د نفوس ځوانه برخه يې لږ ده، په داسي حال کي چي دوی د نفوسو د ډېرښت لپاره ډيري هڅي کړي دي، هغه ښځي چي ډېر اولادونه راوړي ستر امتيازات ورکوي او دا خبره يو شعار ګرځيدلی: (يو د مور، يو د پلار او يو د هيواد لپاره) خو بيا هم نه دي توانيدلي چي دا خلا ډکه کړي .

همداسي جاپان اوس په نړۍ کي هغه هيواد دئ چي تر ټولو لږ ماشومان پکښې دنيا ته راځي . همداسي روسيه نن ورځ د نړۍ په سطحه د نفوسو له کمښت سره مخ ده، يو روسي اخبار وايي چي: په (۲۰۷۵م.) کال کي به د روسيې نفوس نيمايي ته راټيټ سي، يعني له ۱۴۰ ميلونه څخه به ٦۰ ميلونه ته راکم سي، پوتين په خپله کلنۍ وينا کي وويل: اوس د روسيې لپاره تر ټولو ستر ناورين د نفوسو کمښت دئ او دی وايي چي، هر کال د اووه سوه زره (۷۰۰۰۰۰) په اندازه د روسيې نفوس کميږي او د دي لپاره يې يو دولتي پلان هم اعلان کړ.

لنډه دا چي د طاقت اصلي سرچينه بشري ځواک دئ او له نېکه مرغه د مسلمانانو دا ځواک ډېر په چټکۍ سره زياتيږي او غرب ډېر په چټکۍ سره ور څخه بې برخي کيږي او دا د دوی لپاره ستر ناورين دئ، د شوروي له سقوط وروسته غرب مسلمانان خپل اصلي رقيب بولي او د مسلمانانو د پر مختګ پر وړاندي هر ډول خنډونه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**انجنیر روزي محمدِ غورځنګ**

انجینري پوهنځی

# د ټولنیزو شبکو څخه د استفادې ادبونه

د انسان هره کړنه او قول په شریعت کې ځانګړی حکم لري، او دا حکم یې کېدای سي چې فرض، واجب، مستحب، مباح، مکروه او یاحرام وي. اجتماعي(ټولنیزي) رسنۍ او ارتباطي وسایل، لکه: راډیو، ټلویږون، انټرنیټ او نور داسي وسایل دي چې پخوا نه وه او اوس منځته راغلي دي.

دغه وسایل په پراخه کچه استعمالول او په ټولنه کې یې پراخ تاثیر ته په کتلو ځانګړي احکام او ادبونه لري.

ښېله شکه له دغو وسایلو څخه په ښه ډول استفاده کول د دین د اشاعت، د خلکو د اذهانو د تنویر او د اسلامي فکر د خپراوي لپاره له ستر ارزښت څخه برخمن دي.

همدارنګه غلطه استفاده له دغو وسایلو څخه په ټولنه کې ستري ناخوالي رامنځته کوي او ټولنه د بربادۍ او اخلاقي رذایلو خواته ټیله کوي.

په دې لیکنه کې کوشش کوو چې داجتماعي شبکو د استعمال اړوند ځیني ادبونه بیان کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه اداب چي باید رعایت سي:**

١. د اخلاقي اصولو رعایت او هغو ته التزام.
٢. د مثبتو او زړه راښکونکو ادبیاتو کارول.
٣. د معلوماتو په نشر کي ټولنیز نزاکتونه او ظرفیتونه په پام کي نیول.
٤. د سختو او بدو الفاظو څخه ډډه کول.
٥. د بیان د ازادۍ رعایت او له هغې تیری نه کول.
٦. د فکر اونظر د اختلاف اداب په نظر کي نیول.
٧. د نورو په اړه ښه ګمان کول.
٨. د خلکو پر نظریاتو باندي نقد کول نه دخلکو پر شخصیت باندي.

**هغه موارد چي باید اجتناب ورڅخه وسي:**

١. د داسي مطالبو نشرول چي درواغ وي.
٢. د داسي مطالبو نشرول چي په غیبت کي حسابیږي.
٣. داسي معلومات نشرول چي منبع یې معلومه نه وي اویا دقیقه نه وي.
٤. د خلکو د شخصي او کورنیو مسایلو په اړه معلومات خپرول.
٥. د داسي مطالبو خپرول چي د فحشا او فساد سبب کیږي.
٦. د داسی مطالبو خپرول چي د خلکو تر منځ د اختلافاتو سبب کیږي.
٧. داسي مطالب خپرول چي د اسلامي عقیدې خلاف وي.
٨. داسي مطالب خپرول چي د اقوامو د توهین سبب کیږي.

---

## سپکتیا او لوړتیا

ستا هغه خاموشي ډېره ښه ده چي وروسته یې خبري کولای سې؛ خو هغه خبره دي ډېره بده ده چي وروسته یې چُپ سې. لومړنی عزت او دوهم ذلت دئ.

نو داسي څه مه وایه چي سبا پرې سرځوړی یې، بلکي داسي څه وایه چي پرې سرلوړی اوسې.

### علم مه سپموه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

که څوک له چا څخه (د دین د علم اړونده) پوښتنه وکړي، او د هغه زده وي لیکن ځني پټه یې کړي نو د قیامت په ورځ به یې په خوله کي د اور کیزه واچول سي (سنن ترمذي: ۲۶۴۹).

نو موږ ایمانًا، اخلاقًا او وجدانًا مسؤلیت لرو چي خپل علم له نورو سره شریک کړو، که نه ګناهکار به یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعـــر

## استاد یحیی حبیبي

د پلار او زوی د بېلتانه اوښکي دي نه تويېږي
پرېږده چي ښه په خوشحالي کي ژندګي وکوي
قسم په خدای که له تعصبه فايده کور ته راوړي
د يوې ذرې ضرر دي نه ويني موږ يو بشر يو
څمکه هغه سوځي چي اور پر بَل وي لويه خدايه!
بس ده اکثره وخت مو وخوړه له اوښکو سره
حق لري را دي شي له ماسره دي شپه سبا کړي
د هديرې پر سر دي نوري جنډې باد نه وهي
پوهان سپين ږيري مو را کړوپ شول له غــمونو پر ملا
چيغي دي نه وي، درد دي نه وي، خوشحــالي دي وي تــل
چي خدای ته مخ شي په لمانځه کي دوعــا داسي کوئ
زه او هغه د صداقت په لوړه کچه کي يو
لويان خو څه چي ماشومان به لا ترې ساتو خلګو!
نور دي د تولي نړۍ غم زموږ په سر نه راغورزي
د "حبيبــي" خبري يوه يوه دېرين نقش دي

ګټه يې نشته د کاله اوښکي دي نه تويېږي
زما د ورورجان ستا د وراره اوښکي دي نه تويېږي
د هيڅ تاجک هيڅ پښتانه اوښکي دي نه تويېږي
چي مسلمان دئ د هغه اوښکي دي نه تويېږي
د کونډې مور د غلبېل زړه اوښکي دي نه تويېږي
د خوار يتيم پر ستارخانه اوښکي دي نه تويېږي
ګورئ! زما د مېلمانه اوښکي دي نه تويېږي
تېزي په شان د بارانه اوښکي دي نه تويېږي
د مخور مشرتابه اوښکي دي نه تويېږي
د چا د ترور د چا د تره اوښکي دي نه تويېږي
ربه! رښې رښې اوبه اوښکي دي نه تويېږي
زه وام د دې دا وای دده اوښکي دي نه تويېږي
آن په زانګو کي د ويده اوښکي دي نه تويېږي
د کوم غريب کوم بېچاره اوښکي دي نه تويېږي
ده به ويل پر ګرېوانه اوښکي دي نه تويېږي

========

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد عبدالله محمدي

# افغانستان

افغانســـــــــتان دننگيالیوافغانـــــــــــانوکور دئ
دهمتنـــــــاکو جنگیالیواوغازیـــــــانو کـــــور دئ

حــق یــې پــاللی او پرحــق بانــدي یــې سر ورکــړی
د داسي پــاکو حــق پــالونکو مؤمینــانو کــور دئ

دچنګیزیــانو مــاتوونکي دګرګـــــــــین وژونکــي
دمیـرویس خـان بابـا هوتـک غونـدي نامیـانو کـور دئ

چــي حــق یــې لــوړ کــړ باطــل جنــډه یــې کــوزه کړلــه
د داسي ســـترو شـــازلمیانو اتلانــــو کــــور دئ

چـــي انګریزانــو تــه یـــې ورکـــړل د عـــبرت درســونه
د اکبرخـان او ایـوب خـان غونـدي غازیـانو کـور دئ

چــي سره روســان یــي لــه هیــواده پــه فــرار مجبــورکړل
د مجاهــــدو مبـــــارزو جـــــان بــــازانو کـــور دئ

سر ورکــوي خــو اشــغال ګــرو تــه لاس نــه ورکــوي
د سرښــــــندونکو واقعــــي مســــلمانانو کـــور دئ

هیــواد پــالي خــو د اســلام پــه لارښــوونه بانـــدي
باطـل پـالونکو تـه اجـل د حـق خواهـانو کـور دئ

سـور اسـتعمار یـې پـه ګونـډو کـړ اوس د تـور نوبـت دئ
تـــاریخ ثابتـــه کـــړه چـــه دا د فاتحـــانو کـــور دئ

نـــه یـــې تیمـــور نـــه یـــې بـــابر نـــه یـــې نـــادر منلـــی
د ظالمانومخــــــــالف مبــــــــارزانو کـــــــور دئ

لاســونه پورتــه کــړئ اللــه تــه چــي وطــن روښــان سي
ځکـــه چــــي دا د ســـترو ســـترو انســـانانو کـــور دئ

د عمـــري غیـــرت څرګنــــدې نمـــونې شـــته دلتـــه
د حیــــدري غیـــرت لرونکـــو سربـــازانو کـــور دئ

د ملالـــۍ غونـــدي سرتیـــرې دې ځـــای کـــي وې
چـــه خاینـــان یـــې کـــړل رســـوا دصـــادقانو کـــور دئ

# ایماني ژوند

که پر جسم باندي د نفس حکومت وي نو دا حیواني ژوند دئ. که پر جسم باید د عقل حکومت وي نو دا انساني ژوند دئ. خو که پر جسم باندي د قرآن حکومت وي نو دا ایماني ژوند دئ.

# بې عمله قسم

که مخالفت او عداوت د فیصلې له پاره قرآن ته راجع کوې، نو فیصله پر هغه باندي له لاس اینبوولو څخه نه بلکي عملاً منلو څخه وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library





نصیب الله زاهد
ښوونه او زوزنه پوهنځي

# لنډغر وزګړی

یوه رمه وه، د اوزګړو څانګړې رمه، شپون ښه ساتله د نورو حیوانانو، مړانو او آسانو حقونه به یې په خوړل. په کلي کي به ایله وه، باغونو ته به اوښته او د خلګو شنو فصلونو ته د اوښتلو پرې کاټ یې درلود. کلیوال زیات ور څخه په تکلیف وه، په ستر خوانونو به ور ګډېده او د کورونو ګلان به یې ور خوړل. خلګو به هره ورځ شپانه ته شکایت کاوه، چې دا وزګړي دي حصار کړه پر موږ یې ژوند حرام کړی دئ.

شپانه به بهانې کولې، چې دا خو اوس زما تر وس تېر دي دا غسي اموخته سوي دي، چاغ سوي دي، زما وس نه په رسیږي، چې یو وترم د تولو نارې سي، یا تناب پرې کړي.

دا چې د شپانه د کار اخیري شپې ورځي وې، د خلکو پر خبرو یې چندان غوږ نه ګراوه.

خلګو ته یې وویل: زما خو هسي هم اخیري شپېې او شپې دي در څخه ځم بل شپون، چې رالی تاسي همکاري ورسره وکړئ، چې د دې بدماشو او لنډغرو وزګړو رمه ختمه کړي او تاسي ځني خلاص کړي. وخت تېرېده هغه لندغر پلوی شپون ولاړی، بل نوی شپون راغلی، په دې اړخ کي خاص د خلکو په خوښه وو. څه موده چې ووته دوه چاغ وزګړي یې چپه کړه، چاړه یې پر سر ور تېره کړه، د دوی له وهمه دوه درې نور په وزو ګډ سوه ویل: موږ مونثان یو.

د کلیوالو هیلي را ژوندۍ سوې، د لنډغرو وزګړو څخه د خلاصون ورځي یې په سترګو لیدلې، د شپانه حمایت یې پیل کړ، چې شپانه به غږ کړ د کلیوالو ځوانانو خاص ګروپ به یو لنډغر وزګړی را چپه کړ. لنډغر وزګړي هم دومره کمزوري نه وه، څه نا څه خرو او غویو یې هم ننګه کوله او په کلي کي به ورسره په ځغاسته وه، درز غوبل به جوړ وو دوړي به په پسې وې، غوایي او خره به د وزګړو پر سر درېدل، د دوی پر سر به جنګونه کول او ښکرونه بې غورځول.

شپون لګیا وو د کلیوالو د هوسا او ارام ژوندانه هیلي یې رسمولې او رښتیا کولې.

لنډغر وزګړي په منډه وه، د ارام ځای یې نه وو، نیم وه، نیم نه وه، نیم یې بیا ګوډان، شلیان او مونثیان سول. کلیوال خوشاله وه، شپانه ته یې د زړکلن ژوند لاسونه لپه کړي وه او د لنډغرو حیوانانو څخه د خلاصون دعاوي یې کولې.

## له ځان سره ظلم

آیا له وخته مخکي بوډا کېدل هم سخت کار دئ؟

بس کوچنی غم درته غټ کړه، تر هغه هګۍ لاندي کړه، بچیان ځني تولید کړه او ځان ښه ورسره بوخت کړه، دا یې تر وخت دمخه زوړوالی! استغفرالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**شراف الدین جمال زاده**

د اقتصاد پوهنځي

# د لاجورد ټرانزیټي لارې اقتصادي ارزښت

*Lapis Lazuli & its economic importance*

لاجورد د افغانستان د اقتصادي پېشرفت او تجارانو لپاره تر ټولو ښه خبر دئ، ځکه د دغې ټرانزیټي لارې له طریقه به افغاني تولیدات تر منځنۍ آسیا، ترکیې، اروپایي مارکیټونو او نړیوالو بازارونو ته لاره پیداکوي.

لکه څرنګه چې دغه ټرانزیټي لاره د پنځو غړو هیوادونو لکه افغانستان، ترکمنستان، ګورجستان، ازربایجان او ترکیې هیوادونو په ګډو هڅو سره په (۲۰۱۷م) کال کې امضاء او په (۲۰۱۸م) کال کې عملاً افتتاح سو چې، دا د ټولو افغانانو لپاره یو ښه خبر وو.

ځکه افغانستان په وچه کې راګیر هیواد دئ، بهر ته لاره نه لري نو تل د داسې ټرانزیټو لاره په هڅه کې وي چې په ارزانه قیمت، لنډ وخت او ښه کیفیت تر بهرنیو مارکیټونو خپل توکي ورسوي. ځکه افغانستان په تېرو اووه لس کلنو کې د کراچۍ په بندر پورې تړلی هیواد وو، کله چې به زموږ تجارانو د دې لارې اموال افغانستان ته راوړل ډېر کله به دغه لارې په سیاسي حالت پورې تړلې وې، چې په پایله کې به یې زموږ ملي اقتصاد او تجارانو ته په میلیونونو زیانونه اوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د تاریخ په اوږد کې خپل ستراتیژیکي او جغرافوي موقعیت ثابت ساتلي دئ، که لږ دې لارې ته په ژور نظر وگورو دا خپله د آبرېښم د لارې یو ډول بیا رغول دي. آبرېښم د افغانستان د ستراتیژیکي موقعیت لپاره خورا اړین بلل کیږي. دا چې لاجورد د دې لارې نوم اینسودل سوی دئ، علت یې دا دئ چپ څه باندې دوه زره کاله وړاندې د دې لارې څخه د بدخشان لاجورد تر اروپا پورې لیږدول کېدل.

بل که موږ د لارې واټن، مصارف او نورې ترانزیټي ستونزې په نظر کې ونیسو، تر کراچۍ بندر په یوه کانټینر توکو کې (۱۵۰۰) ډالر ارازانه تمامیږي، نو دا د صنعت کارانو او تجارانو لپاره تر ټولو ښه خبر دئ ځکه هلته رسیده اجناس په ارزانه قیمت او ښه کیفیت سره رسیږي.

ددې لارې تر ټولو لویه ستونزه د هیواد په داخل کې لیدل کیږي، هغه دا چې موږ دومره تولیدات نه لرو چې په دوامداره توگه یې د دې لارې له طریقه ولېږو، ولې چې موږ خپله یو متکي او مصرفي هیواد یو، خو بیا هم یو شمېر زرعتي محصولات، وچې او تازه میوې د هیواد څخه آسیایي او اروپایي بازارونو ته لېږدول کیږي. په دې برخه کې یوازې مشکل دا دئ چې موږ خپل تولیدات د اروپا په کچه معیاري کړو. د پروسیس څخه شروع بیا تر بسته بندۍ (Packing) پورې ټوله د اروپایي مارکیټونو د غوښتنې مطابق جوړ کړو، چې په دې برخه کې زموږ ملي تجاران او صنعت کاران د دولت جدي ملاتړ او تشویق ته اړتیا لري، تر څو هم هیواد په داخل کې د تولید کولو لپاره آسانتیاوې برابرې کړي او هم د افغاني تولیداتو لپاره نړیوال مارکیټونه پیداکړي.

پایله: لاجورد د افغانستان د صادراتو لپاره غوره بدیل دئ د نورو بندرونو او ترانزیټي لارو په پرتله، که په هیواد کې خصوصي او دولتي سکتور په گډه د خپلو تولیداتو د ډېرښت او معیاري کېدو لپاره هڅې وکړي تر څو مو صادارت زیات او واردات مو کم سي چې ورسره سم به مو په ملي بودیجه کې کسر له منځه ولاړسي، داخلي تولیدات به مو ډیرښت وکړي، اقتصادي نوساناتو کنټرول او اقتصادي وده به په هیواد کې مخته ولاړه سي.

---

## پاک او ناپاک خلک

امام اوزاعي رحمه الله وايي:

یو سړي ته مي وویل چي یو کور مي په کار دئ، خو د داسي گاونډیانو تر څنگ چي حسد، غیبت او بُغض نه کوي.

وايي: هغه کس سیده هدیرې ته بوتلم، چي داسي خلک یوازي همدلته اوسیږي.

ښه! نو نن به همسایگان څنگه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





**بصير احمد صديقي**

اقتصاد پوهنځي

# خپلي هيلي مه وژنئ!

هر انسان هيله لري چي پرمختګ وکړي، لوړ مقام، دولت، عزت او شهرت تر لاسه کړي. په ټولنه کي منلی او غوره کرکټر ولوبوي، خو وروسته له څه وخته دوی خپلي دغه هيلي پريږدي ،دوی ته هر څه مشکل او ناممکن ښکاري، دوی خپل داخلي ځواک نه وي پيژندلی ، دوی په دې نه پوهيږي چي همدا انسان و؛ چي د ټولي نړۍ ليدلوري ته يې بدلون ورکړ، هو! همدا انسان چي رب العالمين ذات اشرف المخلوقات پيداکړ. همدا تاته يې ای انسانه! د نړۍ د رهبرۍ کولو ځواک او قدرت درکړ او خپل خليفه او سردار يې په کايناتو کي غوره کړې .

په نړۍ کي هر څه تر لاسه کول اسانه دي، خو مقاومت او لږ څه هڅه غواړي، ايا اوس هم ناهيلی يې.

راسه! د هغو اشخاصو له هيلو دي لږ خبر کړم چي هيڅ هم د رښتيا کېدو باور نه باندي کاوه خو د خپلي داخلي لېوالتيا او پر ځان باور په زور ورته ورسېدل، وروسته هرچا ورته د بريا چکچکي کولې او منلي اشخاص سول.

رسول اللهﷺ د خدایﷻ پيغمبر وو، د خدایﷻ کلام يې خپل قوم ته راوړ ، دوی ته يې د امن او سپېڅلتوب تلقين وکړ ، د ايمان د راوړلو په صورت کي يې پر نړۍ د راج زيری ورکړ خو قوم يې بې شماره ډېر ظلمونه باندي وکړل، دده ياران او سپېڅلي اصحاب يې ورته شهيدان کړل. دی يې د کاهن او جادوګر په القابو ونازاوه او د خپل مسکن څخه يې جدا کړ، خو ده صبر او مقاومت وکړ. خپل مزل ته يې دوام ورکړ؛ هيڅکله تسليم نه سو، نن ورځ يو نيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملیارد انسانان د ده لاره تعقیبوي، که ته وایې دده سره خو د خدای ﷻ نصرت وو .راسه له نورو دي خبر کړم.

توماس اډیسن د ذهني اړخه کمزوری انسان وو، حتی د ښوونځي څخه هم وشړل سو، خو دده هیلي لویي وې، د ده سره داسي هیله پیدا سوه، چي باید ټوله نړۍ روښانه کړي، دا په داسي حال کي چي د برق د موجودیت چا تصور هم نه سو کولای، تر زر ځله ډېر د ماتي سره مخ سو خو خپل کار ته یې دوام ورکړ او بریالی سو، هغه کسان چی خوبونه په عمل بدلوي هیڅکله نه دریږي.

مارکوني دا ارمان درلود چي د هوا د څپو له لاري د لیږد وړ یو غږیز سیستم رامنځته کړي، نن ورځ یې راډیو او بېسیم مخابراتي سیستمونه ژوندۍ بیلگي دي. جاک ما غوښتل د نړۍ تر ټولو غټ د صادراتو او وارداتو انلاین شرکت رامنځته کړي، خلگو دده نظریه بابیزه او پوچه وگڼل، تر سل ځله ډیر د ماتي سره مخ سو خو ده پر خپل ځان او خپل راتلونکي باور درلود او بریالی هم سو، وروسته له شل کاله هر چا دی یو بختور انسان گڼی ، علي بابا شرکت یې ژوندۍ بېلگه ده.

څوک چي خپلي راتلونکي ته هیله مند او باوري وي، راتلونکی به یې هم روښانه او شکر گذاره وي . بیل گیټ پر هڅه باور درلود، خپلو هیلو ته د رسېدو لپاره یې هارورډ پوهنتون پرېښود، د پلار په شمول ټولو کم عقل وگڼی، خو ده خپل هداف او هیلي تعقیب کړې او ورته ورسېد، دده فکر په ټوله نړی کي نوښت او بدلون راوست. نن ورځ داسي دفتر نه سته چي کمپیوټر دي نه وي پکښې او په هغه کي دي وینډوز نه وي، وکي د مایکروسافټ کمپنۍ رامنځته کوونکی ښیم، کله چی بریا ته ورسېد د هارورډ پوهنتون له لوري په افتخاري

دوکتورا ونازول سو، پر سټېج ولاړ وو، تر سترگو یې اوښکي رواني وې، ویل یې: پلاره! ما نه ویل زه به یوه ورځ هتمن فارغه کېږم.

همداسي په زرگونه ځیرې دي چي د خلگو د خبرو پروا یې ونه کړل او یوازي خپل هدف یې تقیب کړل، نن په نړۍ کي منلي اشخاص دي ، خو په یاد ولرئ چي زرگونه داسي ځیرې هم شته چي خپلي هیلي یې د نورو تر خبرو او پر دوی د ناکامۍ د ټاپې وهلو له وجي له لاسه ورکړي او نن یې نوم او نوښان هم نه سته.

ځوانانو! هیڅکله مه تسلیمېږئ، د کوښښ نه کولو پرته بل هیڅ ماتي نه سته، ماتي له دننه پیلیږي. دا زموږ داخلي او ذاتي کمزورتیا ده چي د هدف نه لرلو په وخت مو له هر څه لیري ساتي، هر څومره چي ډېره هڅه وکړئ هغومره ځواکمن کېږئ او څومره چی ځواکمن یاست هومره ډېر کولای سئ چي ډېر مقاومت وکړئ او خپلو هیلو ته ورسیږئ.

---

## اعتماد یعني څه؟

په یوویشتمه پېړۍ کي پر اعتماد هم اعتماد ختم سوی دئ.

وگورئ! اعتماد یا باور هغه کلمه ده چي په لوستلو یې ثانیه تېریږي، په فکر کولو یې دقیقه تېریږي، په پوهېدلو یې ورځ تېریږي، په عملي کولو یې کال تېریږي، خو په ثابتولو یې ټوله ژوند تېریږي.

اوف، اې اعتباره! نور درباندي بې اعتباره یم!

(c) ketabton.com: The Digital Library





**نورمحمد فرحت**

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی

# زموږ د ټولني تر ټولو اساسي ستونزه څه ده؟

که ووایم چي بدبختانه زموږ په ټولنه کي اساسي ستونزي ډیري سته خو، یو له هغوی څخه یې د غبرګون اصول دي، چي موږ نه دي پیژندلي او نه مو مراعات کړي دي، بېخي مو له نظره غورځولي دي. دلته غواړم چي د غبرګون اصول در وپېژنم او د هغوی تاثیرات بیان کړم.

عمومًا غبرګون پر دوه ډوله دئ: مثبت غبرګون او منفي غبرګون.

مثبت غبرګون په ټولنه او اشخاصو کښې مثبت بدلون رامنځته کوي. موږ باید تل هڅه وکړو چي د یو بل پر وړاندې مثبت برخورد ترسره کړو. مثبت فکر کول او د نورو په مقابل کي نېک اقدام ترسره کول، په ټولنه کي د خلکو تر منځ نژدېوالی، مینه او اعتماد رامنځته کوي او یوه ارامه او خوشحاله فضا منځته راوړي. د انسان د پرمختګ او اعتبار د پخوالي یو لامل هم مثبت غبرګون ترسره کول دئ.

همدارنګه منفي غبرګون د نورو په مقابل کي ترسره کول منفي عواقب لري. پر ټولنه او اشخاصو باندي منفي تاثیر شیندي او یو انارشي سیستم رامنځته کوي. د تاوتریخوالي کچه لوړېږي، د انسان پر دماغي او جسمي قوت باندي تاثیر کوي، د خلکو تر منځ اعتبار او مینه له منځه ځي،او د پس پاته کېدو لوی لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو مثال یې وایم کله چي یو کس ښه کار ترسره کړي یا هغه کار تري خراب سې نو هغه باید تشویق کړل سي، نو اړینه دا ده چي په هر ځای کي د هر چا په مقابل کي هغه که موټروان وي، چوکیدار وي، بزګر وي، دوکاندار وي او که په کاري دفتر کي د دفتر دغړو سره وي او که یې له رئیس سره وي، باید پر وړاندي یې مثبت غبرګون ترسره کړو، تر څو یو د بل په زړونو کي د ميني او وروروليۍ احساس پیدا سي او د یو بل په وړاندي مثبت ذهنیت رامنځته سي، په زیاته توګه په کورنۍ کي باید د ښځو او ماشومانو پر وړاندي له منفي غبرګون څخه په کلکه ډډه وسي، دا زموږ په ټولنه کي تر ټولو لویه ستونزه ده چي پاملرنه نه ورته کیږي. هر وخت مو ماشومان او ښځې تهدید کیږي، تر فشار لاندي راوستل کیږي، غوښتني یې نه منل کیږي، اخېر نو په ذهني او قلبي ناروغیو مبتلا سي، دا ټول د منفي عکس العمل تاثیرات دي.

ماشومام وهل کیږي رټل کیږي، له ټولنیزو روابطو او تشویق څخه لیري ساتل کیږي، خاصه پاملرنه یې روغتیا او زده کړو ته نه کیږي.

هغه چي بیا لوی سي له یو عالم مشکلاتو سره لاس او ګرېوان وي، خپل سرنوشت نه سي ټاکلای، کم جرئته وي، د زړه خبره په خوله نه سي کولای، د پرمختګ لاري چاري نه ورمعلومیږي. اخیر نو سل سرونه خیشته کړي بیا نو یو نه سي خریلای. دا ټول د منفي اغېز لاندي راغلي وي او یو ډول وېره او تشویش یې په زړه ننوتلی وي او دا د انسان تر ټولو لویه نیمګړتیا ده چي د هر شي په مقابل کي خنډ ګرځېدلی وي.

زموږ تر ټولو لویه ستونزه داده چي ستونزه مو په مخ کي پرته وي، وینو یې، ترسره کوو یې خو له منځه یې وړلای نه سو. نو راځئ چې دا منفي غبرګون په مثبت واړوو او همدا مو مسولئیت دئ.

دغي برخي ته باید جدي پاملرنه وسي، ځکه زموږ په ټولنه کي بدبختانه تر مثبت غبرګون منفي زیات مروج ده، تر ښې خبري کول ښه سلوک چلول منفي اړخ یې زیات ده. هڅه باید وکړو او لاس په کار سو، چي دا ستونزه په ټولنه کي حل کړو. د دې بدبختۍ څخه کورنۍ او ټولنه خلاصه کړو او یوه سالمه فضا رامنځته کړو. اول یې باید له ځانه پیل کړو او بیا په کورنۍ کي، همداسي د اوسېدلو په محیط کي، په ښار کي او په ټولنیزو رسنیو کي ورباندې کار وکړو او عملي یې کړو.،تر څو دغه غلط او تاواني کلتور په ښه او مثبت کلتور بدل سي، نو د ټولني ډیري ستونزي او خنډونو به مو له منځه لاړ سي.

---

## د حکمت پړاو

د سقراط شاګرد ورڅخه وپوښتل چي زما حکمت او پوهه څه وخت اکمال (بشپړتیا) ته رسیږي؟

ورته ویې ویل چي کله د نورو له خوا په خپله ستاینه خوښ نه سې او په ترټنه یې غمجن نه سې.

شاګرد وپوښتل چي دغه حالت ته به نو کله ورسېږم؟

استاد یې وویل: هر کله چي څلور شیان حاصل کړې، یعني دوه غوږونه چي حکمت واوري (د پوهانو نصیحت واوري)، او دوه غوږونه چي کاڼه وي (د جاهلانو بېهوده خبري وانه وري).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبدالرشید راشد، اقتصاد پوهنځی**

# د منفي فکر زیانونه

هغه څه چي انسان له نابودۍ او ماتي سره مخ کوي، هغه يې خپل منفي فکرونه دي، چي په خپل زړه، ځان، روح او مغز کي يې ځای ورکړی وي، که نه نو بهرني عوامل زموږ په وجود باندې د اغېزې کوم خاص قدرت نه لري.

وايي يوه ورځ شمعي له اورلګیت څخه پوښتنه وکړه: له تاڅخه وېره لرم، ته زما وژونکی يې، ته هغه يې چي زما ژوند ته اور اچوې او زما د نابودۍ لامل ګرځېدلی يې او نور... همداسې يې دوام ورکړ، اورلګیت په خندا سسو، ورته يې وويل: له ماڅخه مه وېرېږه، زه تا له منځه نه وړم، زما اور يوازي تا لږ سوځوي، ته په اصل کي بايد له هغه پلتې (تار) څخه وډار سې چي ستا په منځ کي تېره سوې ده او تر آخره دي سوځوي، که هغه نه وای زما اور ته هیڅکله هم نه سوځولې او له منځه يې نه وړلې.

که د شمعي په منځ کي هغه تار نه وای نو بيا شمعه تر پايه نه سوځېدله، نو داسې ويلای سو چي دا منفي فکرونه دي چي موږ سوځوي يعني موږ ځان خپله خرابوو.

منفي فکر لرونکي يا بدبين کسان معمولاً مثبتوکارونو ته په منفي سترګه ګوري او د منفي نتايجو تمه ترې لري، چي دا کسان معمولا ناکام کسان دي او له ژوند څخه ناهيلي دي او ورڅخه کرکه کوي. که چيري يو ګيلاس نيم له اوبو څخه ډک وي نو مثبت فکر لرونکي کسان داسې فکر کوي چي دا ګيلاس نيم له اوبو څخه ډک دئ، خو منفي فکر لرونکي کسان بيا داسې فکر کوي چي نيم ګيلاس تش دئ. منفي فکرونه او حسد موږ يوشان سوځوي.

کله چي يوڅوک زموږ په اړه منفي خبره وکړي نو دا موږته هېڅ زيان نه سي رسولای خو په دې اړه زيات سوچ کول موږ ته زيان رسولای سي، نو بايد په دې اړه سوچ ونه کړو.

منفي فکرونه چي موږ يې په خپل سر کې ساتو، د شمعي دپلتې په شان مو له دننه څخه سوځوي، کله چي په خپل زړه کي ويري او ناهيلیو ته ځای ورکړو په ښکاره زموږ جسمي توانايي او پياوړتيا له منځه ځي.

د ځينو کسانو په اړه موږ ته منفي خبري کېږي، خو کله چي له نژدې ورسره ملګري سو نو ډېر ښه کسان وي، حال دا چي موږ ته غلط فهم راکړل سوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ او تاسو زياتره هغه کسان خوښوو چي د مثبت فکر خاوندان وي ځکه د منفي فکر خاوندان موږ ته د خوښۍ پر ځای خپګان راکوي او د دوی له خولې څخه هيڅکله خوشحاله کوونکې خبره نه وځي. په پای کي به دا ووايم چي د منفي فکر له خاوند څخه د مثبتو کړنو هيله مه لره.

# بې ارزښته افتخار

تر ټولو ناوړه افتخار هغه وي، چي يو څوک په داسي شي افتخار وکړي چي ده يې په رامنځته کولو کي هيڅ ډول رول نه وي ادا کړی، لکه: رنګ، قد ،قوم، ژبه، ميراثي شتمني اونور. نوکه ميړه يې په هغوشيانو فخر وکړه چي تاخپله ګټلي وي لکه: تقوا، علم ، مهرباني، صداقت او داسي نور.

**عتيق الله نوري**

حقوق او سياسي علومو پوهنځی

# د برياليو کسانو شل ځانګړني

۱. درواغ نه وايي.
۲. غرور نه لري.
۳. صميمي وي.
٤. د درناوي او منندويۍ حس لري.
٥. د هېرولو چل ورځي.
٦. د نورو برياوو ته ارزښت ورکوي.
٧. د نورو کسانو پرمختګ غواړي.
٨. خپلي نيمګړتياوي مني.
٩. هره ورځ مطالعه کوي.
۱۰. يادابښتونه ساتي.
۱۱. د(څه وکړم ؟) لړ ساتي.
۱۲. د نظريو په اړه خبري کوي.
۱۳. مالومات شريکوي.
۱٤. خوښي څرګندوي.
۱٥. موخي ټاکي او د ترلاسه کولو لپاره يې پلان جوړوي.
۱٦. توپيرونو ته غېږ خلاصوي.
۱٧. دوامداره زده کړه کوي.
۱۸. د بدلون لپاره ليرليد لري.
۱۹. هيلي ژوندۍ ساتي.
۲۰. هوډ او حوصله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





زین الله زیور

# حشره خوړونکي نباتات

هغه نباتات چې د حیواناتو په څېر تغذیه کوي د ځینو نباتاتوپه پاڼو کې داسې بدلونونه رامنځنته سوي دي چې په څرګند ډول د پاڼې شکل نه لري، په دوی کې ځینې ساقې په پیچکونو بدلې سوي دي او کوچنیو پاڼو یې هم تغیر کړی دئ، د دې نباتاتو په ځینو ډولونو کې ټوله پاڼه په اغزیو بدلیږي اویا هم په اغزیو کې د پاڼې محور په اغزي بدلیږي، یا د ځینو نباتاتو پاڼو داسې تغیر کړی دئ چې د کوچنیو حیواناتو (حشراتو ) ښکار یا نیولو وړتیا پیدا کوي چې هغه د غذایي موادو په توګه جذب او هضموي، دهغه نباتات د حشره خوړونکو نباتاتو Insectivorus plants په نوم یادیږي. حشره خوړونکي نباتات سره له دې چې ټول اتوتروپ(Autotroph)یعني کلورو فیل لري، ځانته غذا په خپله جوړوي مګر بیا هم د ډیرو ایونونو د لاسته راوړلو لپاره د کوچنیو حیواناتو او حشراتو د نیولو لپاره ځانګړي جوړښتونه لري، چې کوچني موجودات نیسي او هغه هضموي. د تجزیه سوي محصولاتو څخه یې د نایتروجن د منبع په توګه استفاده کوي، په همدې توګه دغه نباتات کولای سي په هغو ځمکو کې چې خاوره او اوبه یې د تغذیوي موادو له نظره نیستمنه وي وده وکړي. دغه نباتات د لاسته راغلي ښکار د تجزیې لپاره (Protease) او (Hydrolase) هضمي انزایمونه افرازوي. حشره یا غوښه خوړونکې نباتات د خپل ژوند د پایښت، د غذا رانیولو او هضمولو لپاره ځینو جوړښتونو ته انکشاف ورکړی دئ، لکه: د پاڼو بدلون او د تغیر سوو پاڼو پر مخ د هضمي غدواتو لرل دي، چې په دغه برخه کې له درې ډوله نباتاتو څخه یادونه کوو. لکه: لسیرینس لومې، چاینک لومې، اوټرل لومې دي. په غوښه خوړونکو نباتاتو کې ډیري برخې دسریښوولو خاصیت لري چې د دې سریښناک جوړښت په واسطه نباتات نیسي، لکه: د (Drosera) نبات. د نوموړي نبات پاڼې ویښته ډوله جوړښتونه (Tentacle) لري چې په خپلو سرونو کې د غدو په لرلو سره د عسل بوی ورکوونکي روڼه ځلیدونکي مواد افرازوي، نوموړی نبات دبوی او ځلیدلو په واسطه ځانته حیوان جلبوي چې په نتیجه کې رڼنګ وینښتان کیومو تروپیزم (Chemo Tropism) له مخي د ښکار په لور کږیږي او په پای کې ټول حیوان پټوي له (Chitin) پرته یې هضموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیور حیاتي

# درنو هیوادوالو!

تر هر څه وړاندي درته سلام، درنښت او ادب وړاندي کوم. خوښ یم، چي د هیواد نوی نسل مو تر ډېره خپله علمي قوه پر علمي چاپي او د نوي فکر پر روزلو د یوه متحد افغانستان لپاره مصرفوي. زما د یو ځوان په توګه له ټولو هیوادوالو څخه هیله ده، چي د خپل ښار، چاپېریال او مېشت محیط د پاکوالي په برخه کي خپله ټوله توجو وکړي او یو صفا ښار د یوه ژوندي ملت د هویت څرګندونه کوي. ددې ترڅنګ مي هیله ده، چي د مالیې په ورکولو سره د خپلو حکومتي بنسټونو ملا وتړئ او پر وخت خپله مالیه تحویل کړئ، تر څو د ښار په سمسورتیا کې موږ د ښاروالۍ په استازیتوب ستاسو سره رغنده رول ولوبوو.

زه د زابلي محصلینو د ټولني او په فرهنګي برخه کي د ټولو ځوانانو د ستړیو قدرداني کوم او هیله مند یم، چي موږ به د ځوانانو په برخه کي د تخمین سوي بودیجې زیاتره مصرف د همدې ځوانو د علمي بنسټونو پر تقویې تمرکز وکړو.

په خورا درنښت

زیور حیاتي

د قلات ښاروال

(c) ketabton.com: The Digital Library






**حاجي احمدالله ډاکټر**

# درنو او پتمنو هیوادوالو!

افغانستان د خپل یوه ډېر عمیق او سیاسي چاپیریال څخه د وخت په ژبه تېریدونکي حالت کي دئ او تر بل هر وخت په دې حساس پړاو کي د ځوانانو رول رغنده دئ، تر څو د علمي برخي په مټ د عامه اذهانو روښانولو او د یوه سرلوړي افغانستان د بنسټ اېښودلو په برخه کې کار وکړي. زه ډاډه یم، چي دا چاره به یوازې د ځوانانو په زده کړو او د همدې متخصصو ځوانانو په مټ ترسره سي، زما هیله همدا ده، چي ددې وطن پیاوړتیا او پرمختګ یوازي په زده کړه او علمي سکتور په ودي پوري اړه لري.

په وروستیو کي د زابلي محصلینو ټولني د فرهنګي ډلي له سترېو، نوښتونو او زحمتونو څخه مننه کوم، چي د خپل هیواد په سمسورتیا کي رغنده رول لوبوي، د یوه سوداګر په توګه مي هیله ده، چي ددې وطن ټولو ناخوالو ته د قلم په ژبه انعکاس ورکړي او وطن مو له دې بدبختۍ وساتي. پر حکومتي نهادونو مي ږغ دئ، چي د ترانسپورتي برخي اړوند دي خپله ټوله توجو د سړکونو رغولو او هم د یوه حساس کمپیوټري ترانسپورتي سیستم په ایجادولو کي د هیوادوالو لپاره اسانتیاوې ډیري کړي.

د منني په پار
حاجي احمدالله ډاکټر
د احمدشاه ابدالي شرکت با صلاحیت نماینده

(c) ketabton.com: The Digital Library





بشیراحمد نظري

# په کندهار ولایت کي دزابلي محصلینو د ټولني د مشر پیغام

داتوم او کهکشان دخالق په سپېڅلي نامه

دایو منل سوی حقیقت دئ چي هره ټولنه یا ټولنیز ګروف که غواړي چي ځان له نورو سره سیال کړي او د نورو رنګه ښه ژوند ولري نو باید نوی نسل یې په اوسنیو عصري علومو ځان سمبال کړي ، ځان او ټولنه د نورو له هر ډول سیاسي، اقتصادي او فرهنګي احتیاج او تاثیراتو څخه خلاص کړي .

الحمدالله نن زموږ ځوانان خپل دغه رسالت ته متوجه سوي دي او د هیواد په داخل او خارج کي لګیا دي. د ټولني د اوسنیو غوښتنو مطابق ځان جوړوي او انشاء الله چي ټولنه او افغانستان به جوړوي.

زه د زابلي محصلینو د مشر په حیث او د زابلي محصلینو ټولنه ویاړ کوو چي یو ځل بیا یعني

(c) ketabton.com: The Digital Library



په(۱۳۹۸ش) کال کي لسګونه زابلي محصلین د کندهار په ولایت کي له دولتي او خصوصي پوهنتونو څخه فارغيږي او د خپلي ټولني خدمت ته به اوږه ورکوي ، پر زابلي مشرانو او ولایتي اداري باندي غږ کوو چي د دوی له هنر او ځواني انرژۍ څخه د دې په قصدي توګه محروم سوي ولایت په رغوونه او پرمختګ کي استفاده وکړي او خپلي اداري ورباندي ښایسته کړي او له خپل مسلک سره سم ورته د خدمت کولو زمينه برابره کړي .

د دې تر څنګ پر فارغو سوو ځوانو کدرونو باندي غږ کوم چي د خپلي عقيدې او له هيواد سره د ميني پر اساس دي د خپل محروم او بي وزله ولس خدمت وکړي ترڅو چي راتلونکی مو روښانه سي .

د دې تر څنګ پر ولایتي ادارې، مشرانو، علماء کرامو، ځوانانو او هر مور و پلار باندي غږ کوم چي که غواړي نور له دې تيارو ووزو او يو روښانه راتلونکی ولرو نو تر هرڅه لمړی بايد د خپلو کوچنيانو حق ادا کړو چي، د هغوئ حق سالمه روزنه ده، ځکه دا تعليم دئ چي ولسونه له اسارت او غلامۍ څخه خلاصوي او د خپلواکۍ تېره توره په لاس کي ورکوي.

په پای کي د سلطان ملخي توخي رح دمهالنۍ خپروني د دوهمي ګڼي د چاپ له امله لمړۍ فرهنګي کميټې، د محصلينو ټولني او بيا د زابل ټول علم خوښوونکي خو په قصدي توګه له علم څخه محروم سوي ولس ته مبارکي وايم. او دا ګڼه د هيواد د نامتو بچي، سترسالار او د زابل وياړ سيدال خان ناصر روح ته ډالۍ کوم .

په درنښت

بشیراحمد نظري

په کندهار ولایت کي د زابلي محصلينو د ټولني مشر

## فاسد چارواکي

غله موټر ودراوه او ورته ويې ويل چي "خپلې پيسې" راوباسه.

سپرلي ورته وويل چي ته ما نه پيژنې، زه څوک يم؟

غله د نفي په اشاره سره خپل سر وښوراه.

سپرلي ورته وويل چي زه فلانی يعني د ماليې پخوانی وزير يم.

غله ښيله خندړه ورته وويل چي اوس نو والله که ولاړ سې "زما پيسې" راوباسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library





احسان الله بارز (محمـــدي)

# چاپېریال کي ټـــولنـيز ژوند !

پاک چاپېریال او پاکه فضا د لوړ ښایست او رحمت فضلیت په مانا ده. د انسانانو په ژوند کې مهم رول لري او انساني بقاء د ناروغیو او بربادیو څخه ژغوري. الله ﷻ انسان ځکه په ځمکه کي خلق کړي دي چي مځکه آباده کړي او هلته استوګن اوسئ تر څو د ژوند پراونه، مسؤلیتونه او مکلفیتونه په ښه تدریجي مثبت اړخ ترسره کړي.

د انسان جوړښت د کوم ماشین آلاتو وسائلو پوري مربوط نه دئ، د کایناتو ستر څښتن تعالی تر مور او پلار مهربان ذات دئ چي، ټول ژوندي او غیر ژوندي موجودات یې پر ځمکه باندي قادر کړي دي، ځکه چي د یوه واحد او احد رب ﷻ عبادات، اذکار او واحدانیات یې بیان کړي او د

هغو څخه یو لوی جوړښت سالم عقل درلودونکي د انسان اقتدار ښایست نمونه او پیدایښت دئ ځکه د انسان طرحه، جوړښت او اقتدار د ستر رب، پیداکوونکي، جوړونکي او له منځه نه تلونکي ذات په قبض کي دي او همدا ستر ذات دئ چي د ژوندی موجوداتو له پیدایښت له مخه د هغه ژوند لیک برخلیک ټاکلي دئ بغیر د عاطفي انساني دعاوو هیڅکله په ژوندی او غیر ژوندی موجوداتو کي څوک مداخله نه سي کولای، همدا انسان دئ چي لومړی ځان او وروسته نور افرادي افکار ذهنونه سالم چوپړ ته رابولي، همدا انساني تدارکات د ژوند لوړې ژورې سترپاوې دي چي د نړۍ نظم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصول، قواعد او مقررات ورباندې تنظيم منظيم دي.

چاپيريال ساتنه د ژوندي موجوداتو سره مظبوطه اړيکه لري، ځکه د پوهانو، علماوو او با تجربه اشخاصو څخه نقل سوي چي سالم انسان د سالم چاپيريال څخه رامنځته کيږي او هغه يوه سالمه ټولنه رامنځته کوي او په سالمه ټولنه کي راتلونکي نوی سالم نسل روزل کيږي.

څرنگه چي په افغانستان کي د څو لسيزو راهيسي د جگړو له امله بربادۍ، نا ارامۍ او وحشت خپور دئ او زموږ طبيعي ځنگلونه، سيندونه او شنې دښتي د ويجاړيدو سره مخ سوي او د بيا رغيدو هڅه يې نه ده سوې، سالم افکار مو سالمه ټولنه مو بې سرنوښته او بې اهليته پاته دي، هغه د وخت تاريخي اثار، تاريخي سيمې او تاريخي سندونه مو د يو بل په نوم د بربادۍ او ويجاړيدو خوراک سول، د بهرني سياست او لاسوهني قرباني مو کړه، د مقام موقف لپاره مو خپل چاپيريال، خپله ټولنه، خپل اتفاق او خپل عرف عادت هېر کړل. حتیّ دا مو هېر کړي دي چي د انسان جوړښت او راتگ له کومه ځايه، کوم ځای ته او له کومه وخته دوام لري.

لکه الله ﷻ چي په دې اړه داسي فرمايلي دي:

هُوأَنشَـأَ كُمْ مِنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَ كُمْ فِـيهَا

ژباړه : الله ﷻ هماغه ذات دئ چي تاسي يې د مځکي څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسي ميشت کړي ياست.

نو په دې مانا نه چي د خپل حضور او رب سرغړونه وکړو. د کوم هدف او موخي لپاره چي د ځمکي دنيا ته راليږدول سوي يو، هغه بايد ترسره کړو چي تر څو هم خپل پالونکی روزونکی رب خوشحاله کړو او هم په همدا نړۍ کي سوکاله، ارامه، باسرنوښته او باثباته ژوند ولرو.

ښه چاپيريال هغه دئ چي د يوه هيواد ملي او اقتصادي گټې عايد په خپل موجوديت کي وساتي او خپل هيواد د پرمختگ په لور وغځوي نو بايد چي په خپل روزانه ژوند کي خپل چاپيريال، خپله ټولنه په نظر کي ونيسو او چاته اجازه ور نه کړو چي زموږ محيط او زمونږ ټولنه د ککړتياوو څخه ډکه کړي، زموږ حق دئ چي په مقابل کي د تباه کوونکو ککړتياوو مخنيوی وکړو ځکه هره ټولنه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاحيت او مسنونيت مسؤليت لري چي خپل چاپيريال د نا ارامتيا، ککړتيا او بربادۍ څخه وژغوري.

الله ﷻ هغه رحيم، رحمان او مهربانه ذات دئ چي خپل اشرف المخلوقات يې په ستر رحمت چاپيريال باندي نازولی دئ، پاک چاپيريال مو ژوند ژغوري، پاکه ټولنه رامنځته کوي او روښانه راتلونکي مو جوړوي، نو موږ ته په کار ده چي په ښه ډول او په حقوقي اړخ يې ساتنه وکړو. د چاپيريال څخه د ګټي اخيستني لپاره اعتدال شرط دئ، ځکه دا شرط الله ﷻ يو طبيعي خاصيت په موجوداتو کي ايښی دیئ، نو چاپيريال امانت دئ، ساتل يې پر موږ فرض دي او د چاپريال په قصدي ډول له منځه وړل او تخريبول يو انساني جرم دئ. د مجرم په مقابل کي جدي برخورد کيږي او د قانون منګلو ته سپارل يې زموږ وجيبه او مسؤليت دئ، ځکه د الله ﷻ د رحمت او برکت څخه سرغړونه د دنيا او آخرت ګناه او خلاف کار بلل سوی دئ.

نظافت د ايمان يو رکن دئ، نو بايد خپله ټولنه د ګډوډيو، ناچاريو، بې وزليو او ککړتياوو څخه وژغورو او خپل چاپيريال د يوې پاکي هوا، اوبو او ښه چاپيريال درلودونکي څښتن کړو، تر څو مو ماشومان په پاکه هوا کې تعليم او پرورش وکړي او استوګن و اوسي.

ولي زموږ ذهنونه د جوړښت بقاء، د وحشت ناوړتيا ککړتياوو څخه اخستل سوي دي او هغه ارزښتناکه خاوره مو د سرو وينو رنګ خپل کړی او ځوانانو مو د پوهي او علميت پر ځای د جنګ جګړې ماحول خپل کړی. زموږ طبيعي چاپيريال د جګړو له امله نسکور سوی دئ او د چاپيريال ساتنه مو د لاسه ورکړې ده، نو ځکه هر انسان ته په کار ده او خپل وجداني مسؤليت يې وګڼي او تر خپل وسه زيات د خپل ماحول او خپل چاپيريال دفاع او ساتنـــــه وکړي، چي تر څو مو ولس، هيواد او خاوره د ښه چاپيريال او د ښه جوړښت اقتدار او سرنوشت اصليت خپل کړي.

---

## سپينه چينه

له يوه سلمان څخه پوښتنه وسوه چي ستا او د ډاکتر ترمنځ توپير څه دئ؟

هغه ورته وويل: دواړه سپيني چپني اغوندو، د دوکان خلاصېدو اجازه لرو، دواړه له جارحه وسلو څخه کار اخيستلای سو او دواړه تر سلو زيات فيس اخلو. مګر زه يو ډول بېچاره يم او هغه بل ډول!

داسي چي زه بېچاره د مشتري د وژلو حق نه لرم، خو هغه يې لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حمیدالله سجاد**

# د زابل ولایت لنډه پېژنده...!




د زابل ولایت چي د هیواد له جنوبي ولایتونو څخه دئ او (۸۹۵۰) کیلومتره مربع مساحت لري، د تقریبي احصایې له مخي یې د وګړو شمیر(۹٦۰۰۰۰) تنه اټکل سوی دئ.

د زابل ولایت شمال ته د روزګان او غزنی ولایتونه، ختیځ ته یې د غزني ولایت او لویدیځ ته یې قندهار ولایت پروت دئ. جنوب ته یې د ډیورنډ د تپل سوي کرښې په واسطه له پاکستان سره (۱۸۹) کیلومتره سرحد لری.

د زابل ولایت د اداري وېش له مخي د مرکز قلات په ګډون په (۱۱) اداري واحدونو وېشل سوی دئ، ۱:مرکز قلات. ۲: شاجوی. ۳: ارغنداب. ۴: میزان. ۵: آتغر. ٦: نوبهار. ۷: شنکی. ۸: شهر صفا. ۹: خاک افغان. ۱۰: شملزی. ۱۱: دای چوپان.

د دې ولایت شمالي برخي غرنو نیولي دي، چي د بابا د غره د لړیو څخه شمېرل کیږي. د نوموړي ولایت جنوبي برخي پراخي او هواري دښتي لري. خلګ یې په کرهڼه او مالدارۍ بوخت دي. مهم کرنیز پیداوار یې لکه: غنم, اوربشي, جوار, کچالو, لوبیا او ځیره دي. ځیني مېوه لرونکي وني هم پکښې کرل کیږي، لکه: شفتالو, توت,

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنځله, چارمغز, انار, منې, په تېره بیا ددې ولایت بادام او انگور د پام او اهمیت وړ دي.

دا ولایت دوه مشهور سیندونه لري، چې یو یې د ارغنداب او بل یې د ترنک د سیند په نامه یادیږي، د ارغنداب سیند چې د بابا د غره له لمنو څخه سرچینه اخلي، چې اوږدوالی یې (۱۳۳) کیلومتر ته رسیږي. د برښنا د تولید او د ځمکي د خړوبولو لپاره ښې وړتیاوي لري.

د دې ولایت مشهور غرونه په دې ډول دی: د بولان غر, سور غر, د سرخگان غر, د سور تاک غر, د زابل ولایت خورا فرهنگی او تاریخی سیمي لري، چې په خپله غیږه کي یې ملي شخصیتونه روزلي دي، لکه: میرویس نیکه, شاه اشرف هوتک, شاه حسین هوتک, محمد هوتک او همدارنگه په دې سیمه کي یو شمېر روحاني شخصیتونه هم تېر سوي دي. د دې ولایت تاریخي سیمي، لکه: د قلات غونډۍ, د شاه جوی د هولان رباط سیمه چي تاریخی ارزښت لري د یادولو وړ دي.

دا ولایت د سروزرو او اوسپني خورا پراخي کاني زیرمي لري. نوموړی ولایت د نیمه وچ اقلیم درلودونکی دئ، چي ځیني سیمي وچ او توند بادونه لري، اورښت یې موسمي دئ. د دې ولایت مرکز قلات او شاه جوی ولسوالۍ د ودي په حالت کي دي، نوري ولسوالۍ یې د گڼو لاملونو پر اساس وروسته پاته دي. د زابل ولایت ته په تیرو دیارلسو کلونو کیي د مرکزي دولت له خوا چنداني پاملرنه نه ده سوې، دا ولایت د دوه لویو ولایتونو کندهار او غزني تر مینځ پروت دئ، خلگ یې د دې دوه ښارونو سره نژدې اړیکي لري خو خپله په دې ولایت کې ښار جوړوني ته کومه خاصه پاملرنه نه ده سوې.

# شعر

پوهېږم نه خو دا منظر را باندې ښه لگیږي
یوه بلینډه د شپې په هاغه پورې غره لگیږي

سترگي دي مه اړوه تړی زړه مي مري درپسې
دغه گرمۍ وهلي فصل ته اوبه لگیږي

ښایست خو ډېر دئ خو چي تا ته راغلم درک وکړه نو
په هر یو قبر خو لالیه شمعي نه لگیږي

خدایزده چي ولي مي مهینه ځواني نه خوښوي؟
گنې لمده اوړه خو ډېر ښه په تناره لگیږي

یو وخت مینه وم غزلي مي لوستې دجلان
اوس یې چي هم نوم واورم خوږ راباندي ولگیږي

سیدجیلاني_جلان

(c) ketabton.com: The Digital Library





رحیم جان حقپال

د ښووني او روزني پوهنحی

# د سګرېټو زیانونه او د روږدو پایلي

د روغتیا نړیوال سازمان World Health Organization (WHO) د څرګندونو له مخي په هرو (۸) ثانیو کي یو انسان خپل ژوند د نشیي توکو له امله د لاسه ورکوي او دا یې هم په ډاګه کړې، چي تقریباً شپږ میلیونه وګړي هر کال د سګرېټو د څکولو له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي او د نیم میلیون هغه نورو کسانو روغتیایي حالت خرابیږي، چي د سګرېټو لوګي راکاږي.

که دا لړۍ همداسي روانه وي؛ نو تر (۲۰۳۰م) کلونو پوري به دا شمېر اته میلیونو ته ورسیږي. دا څېړنه ښیي، چي له سګرېټو ډېر اغېزمن سوي کسان به د وروسته پاتي هېوادونو وګړي وي.

ویل کیږي چي په شلمه میلادي پېړۍ کي په نړېواله کچه سل میلیونو انسانانو د هغو ناروغیو له امله چي سګرېټ زېږولې، خپل ژوند له لاسه ورکړي. دا څېړنه ښیي، چي سګرېټ څکوونکي د هغو انسانانو په پرتله ۲۰ – ۲۵ کاله مخکي مري، چي په سګرېټو روږدي نه دي او یا ترې لیري دي.

**د سګرېټو زیانونه:**

په یو وروسته پاتي هېواد کي د سګرېټ څکول د ځوانانو له پاره د ویاړ وړ کار ښکاري او فکر کوي، چي په دې کار ښه ښکاري. په دې وروستیو کلونو کي افغان ځوانان او مشران د ګلانو چلم یا قیلون په څکولو روږدي سوي یا ځانګړي خوني لري او یا هم په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه جوړو سوو مانیو ته ورځي او چلم څکوي. په دې خونو او مانیو کې د قیلون له پاره ځانګړي میوه یې تنباکو، چې بیلابېل بویونه، رنګ او مزه لري وړاندې کیږي. څېړني ښیي چې د قیلون دود لس ځله له سګرېټو زیانمن دئ.

د دوخانیاتو زیانونه یوازې دا نه دي، چې د زړه او سږو سرطاني ناروغۍ پیدا کوي. بلکې ډېري نوري خرابې پایلې هم لري، لکه: د وېښتانو توئېدل، د پوستکې خرابوالی، د پوستکې سرطان، د غاښونو خرابوالی، د هډوکو خرابوالی، د معدې زخم، د ګوتو د رنګ بدلون، د رحم سرطان، د جنسي سلولونو بېوسه کېدل، د ژبې سرطان، د خولې سرطان او ډېر نور رنځونه.

د پوهنې د کچې په لوړتیا او د خبرتیاوو په خپرولو د سګرېټو کارول په پرمختللو هېوادونو کې ټیټ سوي او په ډېرو نورو هېوادونو کې د کښته کېدو پړاوونه وهي؛ خو په هغو هېوادونو کې، چې ډېر وروسته پاتې یا د پرمختګ په حال کې دي، د سګرېټو کارول ډېر دي، چې علت یې ناپوهي او لږ عاید دئ.

څوک چې سګرېټ پرېږدي، د هغو وګړو سطحې ته به ژر ورسیږي، چې سګرېټ نه څکوي؛ په دې شرط چې د ځوانۍ په وخت کې سګرېټ څکول پرېښودل سي.

# شعر

لمنه مي ده ډکه له پاولیو خریداره
په ښار کې مو کمې ده د سرو خریداره

مه ډز ورباندې مه کړه دا ظلم دئ سرېه
دوی هم پرېږده و ژوند ته د مرمیو خریداره

را زده یې کړه رضا به یې کړو یار په دې خبرو
راځه موږ هم لږ پوه کړه په زاریو خریداره

په پاتیو به لا هم ونیسی زور د جنګ صحنې
الله دي رانه واخله د مرمیو خریداره

راځه ته یې نن راکړه څو بوسې پرلپسې
نیکزاد به کړې خوشحاله په خولګیو خریداره

هدایت الله نېکزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library





**مسعود رښتین**

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی

# د امنیت اهمیت

ژوند او امنیت د انسان له اساسي حقوقو څخه شمېرل کېږي، دغه حق په نړیوالو تړونونو او د هیوادونو ملي قوانینو درک او تاکید کړی، کله چي په یوه ټولنه کي امنیت موجود وي نو د افرادو مادي او معنوي حقوق چي په ټولنه کي یې لري، د ویري په اړه یې کوم تشویش نه لیدل کیږي، یعني د امنیت له برکته انسانان کولای سي چي نور حقوق په اساني سره لاسته راوړي، د بیلګي په توګه د امنیت له برکته په یوې ټولني کي د انسانانو ژوند، مال، حیثیت، د اوسېدو ځای، شغل، تګ راتګ، خبري اتري او داسي نور حقوق خوندي وي، دولتونه مجبور دي چي د خپلو افرادو او په مجموع کي د ټولني امنیت وساتي.
په کوم ښار کي چي امنیت نه وي هغه بدترین ښار دی.

همدارنګه امنیت په ملي کچه هم ډېر مهیم دئ، د هر هیواد لومړیتوب په دې کي وي، چي څرنګه خپل ملت ته ارامي راولي.

همدارنګه کله چي حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم په مدینه منوره کي دولت جوړ کړ، نو د امنیت لپاره یې په لومړي قدم کي مسلمانان د یو او بل ورونه معریفي کړل او مسلمانان یې اتحاد او اتفاق ته راوبلل. په دویم قدم کي یې د بهرنیو قبیلو سره د بهرنیو خطرونو په مقابل کي تړونونه امضا کړل، په پایله کي باید ووایو چي امنیت د ټولني یو له اساسي ضرورتونو څخه شمېرل کیږي او د انسانانو د ژوند له حق څخه وروسته د امنیت حق ډېرضروري دئ.
وایي چي زر دوستان کم دي خو یو دښمن زیات دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احمدالله افغان**

د ژبو او ادبياتو پوهنځی

# نبوي جومات

په مدينه منوره کي نبوي جومات په مکه مکرمه کي تر مسجدالحرام يا کعبې شريفي وروسته په اسلام کي دويم تر ټولو سپڅلی ځای دئ، چي لومړنی امام يې پخپله محمد صلی الله عليه وسلم وو. دسلطان غالب القعيطي دسپڅلي ښارونه، حج اواسلامي نړۍ د کتاب له مخي په عرب ټاپو کي نبوي جومات لومړنی ځای وو، چي په (۱۹۱۹ش.) کال په عربي جزيره کي برېښنا ور ورسول سوه.
نبي عليه السلام نبوي جومات د هجرت په دويم کال جوړ کړ. نبوي جومات په مدينه منوره کي ـ چي له هجرت مخکي نوم يې (يثرب)وو- دويم جومات وو. لکه څنګه چي سيف الرحمن مبارکفوري په خپل (الرحيق المختوم)کتاب کي ويلي، لومړنی جومات (قباء) وو. د اسلامي لاربښوونو له مخي په نبوي جومات کي لمونځ له مسجدالحرم پرته په هر بل جومات کي تر لمانځه زر ځله فضيلت لري. په دې وسني جومات کي د پېريو په اوږدو کي له پراختياوو وروسته د نبي کريم ﷺ او دوو خليفه ګانو ابوبکرصديق او عمربن خطاب قبرونه دي، همدارنګه د رسوالله ﷺ د مېرمنو کورونه هم سته. په صحيح البخاري کي له ابو هريره څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: زما د کور او زما د منبر ترمنځ د جنت يوه باغچه ده، نبوي جومات د نبي عليه السلام استوګنځي ته څېرمه په (٦٣٢) ميلادي کال يعني له نن څخه (۱۴۴۱)کاله مخکي جوړ سو، خو له هغه راهيسي ډېر نوښتونه او پراختيايي کارونه پکښې سوي دي. تر ټولو لوی نوښتونه د باچا عبدالله بن عبدالعزيز د واکمنۍ پر مهال وه او تر اوسه دوام لري. اټکل دئ چي د اوسنۍ پراختيا په بشپړېدو، چي هر کال ميليونه لمونځغاړي (لمونځ کوونکي)په يوه وخت په دې جومات کي ځای سي. پروفيسر سباهيش عمر په خپله مقاله نبي محمد او د مديني منورې تمدن په نامه مقاله کي وايي: نن د دغه جومات مساحت د اصلي جومات د مساحت په پرتله سل ځله ډېر سوی دئ، چي کابو ټول پخوانی ښار يې نيولی دئ. پروفيسر عمر زياتوي: د جومات بهرنی دېوال اوس له(وادي البقيع)يعني بقيع درې سره پوله لري، چي دا دره د نبي عليه السلام په وخت کي له ښار څخه بېل ځای ګڼل کېده.

**د جومات چاپېريال:**

د نبوي جومات په ګاونډ کي (الغرقد) هديره ده، چي د نبوت له وخت تر اوسه د ښار د خلکو اصلي هديره ګڼل کېږي. دا هديره اوس د جومات له لويديځ دېوال سره جوخته ده. په بقيع کي سلګونه صحابه ښخ سوي دي، اوس تر جومات حکومتي ودانۍ، روغتونونه، دنګ او لوکس هوټلونه، د پېراو پلور مرکزونه او لويي لاري راتاو دي. د نبوي جومات او مسجد الحرام د چارو د لاښه سمبالښت په موخه د مسجدالحرام او مسجدالنبوي په نامه د عامو چارو يو رياست سته، خو د نبوي جومات خدمات او د پالني چاري د سعودي شاهي کورنۍ پرغاړه دي، همدا وجه ده چي سعودي پاچا ته (خادم الحرمين الشريفين) لقب ورکړل سو. په نبوي جومات کي لومړي امام حضرت محمد ﷺ وو، بيا وروسته صحابه کرام او نور نسلونه امامان وه. نبي کريم ﷺ کوم مرستيال نه درلود، خو ځيني وخت يې له ابوبکرصديق څخه غوښتنه کول، چي د خلکو امامت وکړي، ويل کېږي يوځل نبي عليه السلام جومات ته ننوت چي ابوبکرصديق امامت کاوه، ابوبکرصديق شاته سو او نبي ﷺامامت وکړ. د رسول الله ﷺ له وفات وروسته ابوبکرصديق په څلورو خليفه ګانو کي لومړنی خليفه وو، چي امامت يې وکړ. له هغه وخت راهيسي د نبوي جومات ګڼ امامان او خطيبان تېر سوي دي. شيخ علي بن عبدالرحمن الحذيفي په کرکېچن وخت کي د نبوي جومات خطيب ټاکل سوی، خو حکومت د اکتوبر پر يوولسمه جومات ته دوه نور کسان (شيخ احمدالحذيفي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حذیفي زوی او شیخ خالدالمهنا) امامان وټاکل. دغه کسان چي دوکتوراوي لري، د نبوي جومات امامت کړی. د نبوي جومات لومړي موذن حضرت بلال وو، خو نن ورځ لکه څنګه چي شیخ عبدالرحمن خاشقجي په (الریاض) ورځپاڼه کي ویلي، په نبوي جومات کي (۱۷) موذنین (اذان کوونکي) دي او هره ورځ درې موذنین په نوبت اذانونه کوي، مبارکفوري وایي: رسول الله ﷺچي یثرب ته ورسیدی نو یوه ټوټه ځمکه یې د سهل او سهیل په نومونو له دوو یتیمانو څخه په (۱۰)دیناره واخیسته، چي مخکي به خورماوي پکښې وچېدې. په دې ځمکه کي هغه اوښه ودرېده، چي نبي علیه السلام یې مدینې ته راوړی وو، محمدﷺ هم د جومات په جوړولو کي برخه اخیستې ده، په خټه او ډبرو جوړ سو. پر چت یې د خورما پاڼې او خمبې واچول سوې. په لومړي سر کي نبي ﷺ په بیت المقدس کي مسجدالاقصی ته لمونځ کاوه، چي د مسلمانانو لومړنۍ قبله ده؛ خو محراب یې هغه وخت شمالي خواته وګرځول سو، چي قبله کعبې ته وګرځېده، جنوبي دروازه یې وتړل سوه او شمال ته بله دروازه ورکړل سوه. کله چي صحابوو له نبي ﷺڅخه وغوښتل چي د جومات پر چت خټه واچوي، هغه ردکړه. ځمکه یې هم درې کاله وروسته هواره اوجوړه کړل سوه. د جومات د چارو ویاند وایي چي مساحت یې په پیل کي (۱۰۵۰)مربع متره وو، بیا د هجرت په اووم کال د نبي علیه السلام په امر (۱۴۲۵)مربع متره سو.

**د ځای ښکلا:**

د جومات بهرنۍ منظره او چت یې په زړه راښکونکې بڼه جوړسوي، منارې، ستني، د معمارۍ ځانګړی سبک، د سړولو سیستم او لمونځی یې د کتونکو سترګي ور اخلي. د مسجدالحرام او نبوي جومات د چارو ریاست ویاند شیخ عبدالواحدالخطاب وایي: د نبوي جومات په انګړ کي (۲۵۰)چترۍ دي، چي له باران، لمر او توپاني باده لمونځ کوونکي ساتي، چي تر هري چترۍ لاندي (۸۰۰)لمونځ کوونکي ځايېږي او ټول ټال یې (۱۴۳) مربع متره ځای نیولی دئ. نبوي جومات اوس (۴۱) دروازې لري، د هري دروازې پرسر د الحجر سورت دآیت ژباړه (په سلامتۍ سره ننوځی، په امن کي به یاست) لیکل سوی. کله چي نبي علیه السلام د هجرت په لومړي کال جومات جوړ کړ، مساحت یې (۱۰۵۰)مربع متره وو. عکاظ ورځپاڼي د شیخ الخطاب له خولې ویلي: (د هجرت په اووم کال د خیبر له غزوې تر ستنېدو وروسته نبي علیه السلام امر وکړ چي جومات پراخ کړل سي. د نبي علیه السلام له وفات څو پیړۍ وروسته په نبوي جومات کي د پراختیا او ترمیم ډېر کارونه وسول، د عمر بن خطاب له وخته، امویانو، عباسیانو او عثمانیانو او آل سعود تر واکمنۍ پوري د حج په موسم کي میلیونونه حاجیان نبوي جومات ته ورځي. دوکتور زاریوا وایي: له عمر بن خطاب نه روایت دئ، چي ویلي یې دي: د نبوي جومات په پراختیا کي پروا نه سته آن که ت رسوریې هم ورسېږي، خو چي په اصل بنسټ ولاړ وي . په (٦٣٨) میلادي کال د عمر بن خطاب د خلافت پرمهال د خلکو ګڼه ګوڼه د نبوي جومات د پراختیا لامل سوه، عمر د جومات لویدیځ، سوېل او شمال ته څېرمه ملکیتونه واخیستل او له جومات سره یې یو ځای کړل خو په ختیځه برخه کي یې چي د نبي علیه السلام د مېرمنو خوني وې، ډېره پراختیا ونه سوه . خلیفه عثمان بن عفان هم نبوي جومات پراخه کړ. هغه امر وکړ چي د جومات دېوالونه دي په ډبره او ګچ جوړ سي، په جومات کي یې د اوسپنیزو او ډبرینو ستنو لګولو امر هم وکړ، همدارنګه چت یې په لرګي ترمیم کړ. د هجرت په (۸۸) کال د مدینې منورې واکمن عمر بن عبدالعزیز د اموي خلیفه ولید بن عبدالملک په امر جومات لا نور پراخ کړ، چي مساحت یې (٦۴۴۰) مربع مترو ته ورسېد. ولید د جومات په څنډو کي د څلورو منارو جوړولو امر هم وکړ او محراب یې له سره ورغاوه. د جومات دننه دېوالونه یې په زرو اونورو توکو سینګار کړل. د پایو شمېر یې (۲۳۲) ته ورسېد. عباسي خلیفه ابوعبدالله محمد المهدي هم د (١٦١) او (١٦٥) کلونو تر منځ نبوي جومات لا پراخ کړ، ٦٠ کړکۍ او ۲۴ ورونه یې ور زیات کړل. په (٦۵۴) کال، کله چي جومات وسوځېد، عباسي خلیفه "المعتصم" یې د بیا رغولو امر وکړ، خو دا کار ځکه ونه سو چي مغولو بغداد ونیوی او په (٦۵٦) کال یې سقوط وکړ. خو د ترمیم او نوښت کارونه د مملیکو په واکمنۍ کي بشپړ سول. په (۹۷۴)کال عثمانی پاچا سلیمان القانوني ګنبده بیا ورغوله او نوې میاشت یې پرې نصب کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمانیانو د خپل دود له مخي سپوږمۍ پر منارو او ګنبدو لګولې، چي په زرو له سینګار سوو مسو جوړېدې.

په( ۱۲۲۸) میلادي کال یې ګنبدي ته دسلطان دویم محمد د واکمنۍ پر مهال شین رنګ ورکړل سو. په (۱۲۷۷م) کال نوی جومات ونړېدی، همدا وو چي عثماني سلطان دویم عبدالحمید یې ترمیم او پراختیا ته اړ سو او (۱۰۳۰۳)متره مربع ته ورسېدی. په دې پراختیا کي جومات ته پنځه نور ورونه هم ور زیات سول، دېوالونه یې (۱۱) متره لوړ سول او د تېلو تر (٦۰۰) ډېر څراغونه پکښې ولګول سول. په (۱۳۲۷هـ) (۱۹۰۹میلادي) کال نبوي جومات په عربي جزیره کي لومړنی ځای وو، چي برېښنا ور ورسېده. د سعودي واکمني کورنۍ پر مهال پاچا عبدالعزیز آل سعود په (۱۹۵۰م) کال د نبوي جومات د پراختیا امر وکړ، چي مساحت یې (۱٦۳۲۷) مربع مترو ته ورسېد، پایې یې (۷۰٦) ته ورسېدې او ګروپونه (۲۴۳۷) ته ورسېدل. په (۱۹۷۳م) کال پاچا فیصل بن عبدالغزیز جومات له لوېدیځي خوا شاوخوا (۳۵) زره مربع متره نور پراخ کړ او د لویو چتریو شمېر هم پکښې زیات سو. په (۱۳۹۸هـ) کال د پاچا خالد بن عبدالعزیز په امر له پراختیا وروسته پاچا فهدبن عبدالعزیز د (۱۴۰۵) او (۱۴۱۴) کلونو ترمنځ د جومات د پراختیا امر وکړ، په دې پراختیا کي د جومات دروازی لویې سوې په ۴۱دروازو کي یې برېښنایي زینې ولګول سوې او دورازې یې ۸۵ ته ورسېدې .

سربېره پردې یې ګنبدي ترمیم او څلور دنګې منارې جوړې سوې. د نبوي جومات تر ټولو د لویې پراختیا چارې د پاچا عبدالله بن عبدالعزیز په امر په (۲۰۱۲م) کال پیل سوې چي د اټکل له مخې به شاوخوا دوه میلیونه زیارت کوونکي هلته ځای سي. هغه وخت د سعودي د مالیې وزیر ابراهیم العساف ویلي وه: د جومات مساحت (٦۱۴۸۰۰) مربع مترو ته رسېږي او د جومات ټول ټال مساحت به (۱۰۲۰۵۰۰) مربع متره سي. په دې مساحت سره به د جومات دننه یو میلیون لمونځ کوونکي او (۸۰۰۰۰۰) نور په بهرني انګړ کي ځای سي. د جومات د چارو ویاند ویلي، پاچا عبدالله د (۲۵۰) اضافي لویو چتریو نصبولو امر هم وکړ، دا چترۍ په عصري سیستم سمبالي دي، چي له لمر ختلو وړاندي غوړېږي او د شپې ببرته ټولېږي او لمونځ کوونکي له سوځنده لمر او بارانه ساتي. دی وایي: کله چي پاچا سلمان واک ته ورسېدی، د نبوي جومات د توسعې د کارونو دوام یې ضروري وباله، تر (۲۰۴۰م) کال پوري به د نبوي جومات په دننه او بهرني انګړ کي تر (۱٫۲) میلیون ډېر لمونځغاړي (لمونځ کوونکي) ځای سي. د نبي علیه السلام منبر هغه منبر دئ، چي نبي علیه السلام خپلو صحابو ته پکښې خطبه ویله، سیف الرحمن مبارکفوري وایي: په نبوي جومات کي لومړنی منبر د خورما له لرګي جوړ سوی وو، چي درې پوړه وو، بیا وروسته څلورو خلیفه ګانو هم له دې منبره ګټه اخیسته. د ابوبکر صدیق او عمر د خلافت پر مهال به دواړو د منبر له دویم پوړ څخه خطبې ویلې، خو عثمان بن عفان له لومړي پوړ څخه خطبه وړاندي کوله بیا وروسته یې له درېیم پوړ څخه خطبه ویله لکه نبي علیه السلام چي دا کار کاوه خو د نبي علیه السلام منبر په (۸۸٦) کال په جومات کي د اور لګېدو له کبله وسوځېدی.

**محراب**: په نبوي جومات کي دوه محرابه دي، په لومړي کي یې نبي علیه السلام امامت کاوه، دا محراب اوس له روضې او اذان ځې سره نژدې دئ. ډاکټر اختر وایي: نبوي محراب ټوله هغه ساحه نیولې چي نبي علیه السلام به پکښې امامت کاوه، مګر هغه ځای یې پاته دئ چي نبي ﷺ به خپلې پښې پکښې اېښودلې، دویم محراب یې عثماني محراب دئ، چي تر اوسه امامان ګټه تري اخلي. درېیم محراب هم سته چي د ډاکټر اختر په وینا، سلیماني یا حنفي محراب ورته وایي. دا محراب د سلطان سلیمان القانوني په امر جوړ سوی، چي یو حنفي امام پکښې امامت وکړي، خو مالکي امام به له نبوي محرابه امامت کاوه.

زرغونه ګنبده د نبوي جومات له سترو ځانګړنو څخه ده. دا ګنبده د نبي علیه السلام، ابوبکر صدیق او عمر د قبرونو پر سر ده. سمهودي په خپل کتاب (وفاءالوفاء)کي لیکلي دي چي: لومړنۍ ګنبده د نبي علیه السلام پر قبر د هغه تر مړینې (٦۵۰) کاله وروسته په (٦۷۸/۱۲۷۹ه) کال د مصر مملوکي واکمن سلطان المنصور سیف الدین قلاوون له خوا له لرګي جوړه سوه. دا ګنبده په بېخ کي مربع شکل او په سر کي اته زاویې لري. له څو ځله سوځېدو وروسته بیا ترمیم سوې او عثماني سلطان غازي دویم محمود خان بیارغولې ده.

دکتور اختر د رفعت باچا د یادښتونو څخه نقل کوي چي: ګنبدې سپین رنګ درلود بیا بنفشي رنګ ورکړل سو، وروسته په (۱۸۳۷م) کال زرغون رنګ ورکړل سو.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**